# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

دیارلسم کال، یوسلو اووه ځلویښتمه ګڼه د ۱۳۹۸ کال د وږي میاشت



# توسعه خدمات مالی وسیلهٔ برای رشد فراگیر اقتصادی



**هموطنان گرامی!**

پول رایج و واحد پولی افغانستان افغانی است! به همین منظور، از **همه افغانها تقاضا** بعمل میآید تا در خرید فروش های اقتصادی از پول افغانی استفاده نمایند.

## د افغانستان بانک خبرتیا!

د مخکینی خبرتیا په تعقیب، د افغانستان بانک یو ځل بیا درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې په مرکز او یو شمېر ولایتونو کې ځینې وګړي لا هم د فورکس د آنلاین سوداګرۍ په نوم مالي معاملې ترسره کوي. د افغانستان بانک تر اوسه هیڅ وګړي یا شرکت ته د فورکس آنلاین فعالیتونو جواز صادر کړی نه دی او د هغوی فعالیتونه غیر قانوني دي. له کومه چې د دغو وګړو او شرکتونو سره معاملې بې خطره نه دي او د هېوادوالو لپاره مالي زیانونه رامنځ ته کوي، له درنو هېوادوالو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د دا شان وګړو او شرکتونو سره له معاملو څخه ډډه وکړي.

د افغانستان بانک په هڅه کې دی چې هغه وګړي چې دا شان فعالیتونه ترسره کوي، وپېژني او عدلي او قضايي ارګانونو ته یې معرفي کړي.

## بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوري و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی

آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af

شمارهٔ ثبت: ۶۵۸

www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+


## د دې ګڼې مطالب


توسعه خدمات مالی وسیلهٔ برای رشد فراگیر اقتصادی

مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسي د ملي ستراتیژۍ او د پیسو وینځلو او ...

پایان ورکشاپ سه روزه ارزیابی خطرات ملی پولشویی و تمویل تروریزم

د افغانستان بانک په اړانه کې د روانو پروژو په اړه معلوماتي غونډه

هیئت مدیره انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان تدویر جلسه نمود

په صادراتو او کورنیو عوایدو کې زیاتوالی

بانکداری اسلامی و سیر تاریخی آن

د سپما ارزښت

د افغانستان بانک عملیاتي کړنو ته ځغلنده کتنه

اقتصادي خبرونه

تأمین انرژی؛ یکی از ضروریات اقتصاد

تر راتلونکو شپږو کلونو پورې د بډوالۍ وده

د یو هېواد په اقتصادي وضعیت کې د بېکارۍ اغېزې

د شنو خونو د پراختیا لپاره هڅې او هاند

اقتصاد زراعتی

په اقتصادي ودې د کرنیز سکتور اغېزې

د سړو خونو اقتصادي ارزښت

مالداری ته پاملرنه؛ د لبنیاتو له وارداتو خلاصون



**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

# توسعه خدمات مالی وسیلهٔ برای رشد فراگیر اقتصادی

د افغانستان بانک در تلاش است تا دسترسی عامه به خدمات مالی را جهت دستیابی به رشد فراگیر اقتصادی که همه اقشار کشور از آن مستفید شوند، توسعه بخشد. به همین منظور در گام نخست ستراتیژی ملی توسعه خدمات مالی را به همکاری تخنیکی بانک جهانی تدوین و طی کنفرانس مطبوعاتی به معرفی گرفت.

دسترسی افراد و تشبثات خُرد، کوچک و متوسط به خدمات مالی، تمویل زراعت، تأمین حقوق مشتریان سکتور مالی و توسعه خدمات مالی دیجیتلی چهار اولویتی می باشد که در این ستراتیژی مهم ملی روی آنها تمرکز صورت گرفته است.

متشبثین و عامه مردم جهت راه اندازی تجارت و یا توسعه کار و بار خود به منابع مالی یا سایر معاملات پولی شان به تسهیلات بانکی نیاز دارند تا معاملات پولی شان به شکل مصون، مطمئن و دور از خطر صورت گیرد که مصونیت پولی شان به بانک ها وابسته است که پرداخت، برداشت، انتقالات و همه معاملات را به شکل مصون و از طُرق مختلف انجام میدهند.

در بخش دیگر چون اکثریت مردم افغانستان مصروف زراعت اند؛ زارعین جهت توسعه کار و بار خود به وجوه مالی نیاز دارند. بانک ها و مؤسسات مالی در جهت رونق فعالیت های شان باید آنها را تمویل مالی کنند تا در رشد تولید ناخالص داخلی و سرانجام در رشد اقتصاد ملی سهم فعال گیرند.

مورد دیگر تأمین حقوق مشتریان سکتور مالی است. مشتریان بانک ها سرمایه بانک ها اند که باید جهت تأمین حقوق آنها سعی و تلاش فراوان گردد تا آنها بیشتر از پیش علاقمند پیشبرد معاملات مالی و پولی خود از طریق نظام بانکی گردند.

مورد دیگر را توسعه خدمات بانکداری الکترونیکی یا دیجیتلی تشکیل میدهد که باید جهت رونق فعالیت های اقتصادی به آن بیشتر از پیش پرداخته شود تا مردمی که دسترسی به بانک ها ندارند، فعالیت ها و معاملات پولی و انتقالات خود را از آن طریق به صورت سهل و با اطمینان انجام دهند.

در نتیجه می توان گفت که ستراتیژی ملی توسعه خدمات مالی با از میان برداشتن موانع عمده فرا راه دسترسی عامه به خدمات مالی، زمینه بیشتر دسترسی و استفاده مردم و تشبثات را به خدمات مالی رسمی فراهم ساخته و تطبیق موفقانه آن در دست یابی به رشد فراگیر اقتصادی کشور، کمک خواهد کرد.

# مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسي د ملي ستراتیژۍ او د پیسو وینځلو او تروریزم د تمویل د خطرونو د ارزونې د ملي پروسې پېژندنه



کابل، د ۱۳۹۸ کال د وري ۱۳ مه د افغانستان مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسي د ملي ستراتیژۍ او د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د ملي خطرونو د ارزونې سندونه د افغانستان بانک او نړیوال بانک په ګډه همکارۍ تر بشپړېدو وروسته د یو خبري کنفرانس په ترځ له رسنیو سره شریک شول.

په دغه کنفرانس کې د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر یادونه وکړه چې مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسي ملي ستراتیژي یو مهم ملي سند دی چې د پالیسي جوړولو په څلورو لومړیتوبونو تمرکز کوي.

نوموړي زیاته کړه چې په دغه لومړیتوبونو کې مالي خدمتونو ته د اشخاصو، وړوکو، کوچنیو او منځنیو تشبثاتو ته لاسرسی، د کرنې د سکتور ملاتړ، د مالي سکتور د حقونو تامینول او د ډیجیټلي خدمتونو پراختیا شامل دي.

دا ستراتیژي مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسي په لاره کې د بنسټیزو خنډونو په له منځه وړلو سره رسمي مالي خدمتونو ته د خلکو او تشبثاتو د لاسرسي او کارونې زمینه برابروي چې په بریالیتوب سره پلي کېدل به یې اقتصادي وده پیاوړې کړي.

په ورته وخت کې په افغانستان کې د نړیوال بانک سرپرستې آغلې هما زهرا فتوحي هم خبرې وکړې او یادونه یې وکړه چې نړیوال بانک یو باثباته او ټول شموله مالي سیستم ته لاسرسی چې په هغې سره ټول افغانان، په ځانګړې توګه متشبثین په آسانی سره مالي خدمتونو ته لاسرسی پیدا کړي او وکولای شي د بېوزلۍ په کمولو او په اقتصادي وده کې مهم رول ولوبوي، ملاتړ کوي.

د نوموړې په خبره مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسي د ستراتیژۍ جوړول او تدوین دې موخو ته د رسېدو لپاره یو ښه اقدام ګڼل کېږي چې نړیوال بانک به د دې ستراتیژۍ د پلي کولو په برخه کې د افغانستان بانک څخه دوامداره ملاتړ وکړي.

په یاد کنفرانس کې د افغانستان د مالي معاملاتو او راپورونو د شننې مرکز آمر ښاغلي نثار احمد یوسفزي د یادو سندونو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او یادونه یې وکړه چې د پیسو وینځلو او د تروریزم د تمویل د خطرونو د ارزونې د ملي پروسې موخې په بېلابېلو سکتورونو کې د پیسو وینځلو او د تروریزم د تمویل د خطرونو پېژندنه، درک او ارزونه، په هېواد کې د مالي خدمتونو د پراختیا د ستراتیژۍ د عملي کولو په برخه کې د آسانتیاوو رامنځته کول، د پیسو وینځلو او د تروریزم د تمویل سره د مبارزې په برخه کې د جامع او عملي پلان رامنځته کېدل او نور شامل دي.

همداراز په دې کنفرانس کې د مالي خدمتونو د پراختیا آمر ښاغلي میراحمد شکیب مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسی په اړه معلومات ورکړل او یادونه یې وکړه چې د دې ستراتیژۍ په پلي کېدو سره به تر راتلونکو پنځو کلونو په هېواد کې مالي خدمتونو ته د خلکو لاسرسی له ۱۵ سلنې څخه ۳۰ سلنې ته لوړ کړي او د مالي خدمتونو د پراختیا په برخه کې به ډېرې نورې آسانتیاوې هم رامنځته شي.

د یادونې وړ ده چې په دې کنفرانس کې د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي، یو شمېر آمرینو، د سوداګریزو بانکونو مشرانو، په افغانستان کې د نړیوال بانک او رسنیو استازو هم ګډون کړی وو.

باید وویل شي چې د کنفرانس په وروستۍ برخه کې له د افغانستان بانک سره د نړیوال بانک د هر اړخیزو همکاریو په پار د افغانستان بانک له لوري د یاد بانک استازو ته مننلیکونه هم ورکړل شول.

# پایان ورکشاپ سه روزه ارزیابی خطرات ملی پولشویی و تمویل تروریزم



کابل، ۴ سنبله ۱۳۹۸- ورکشاپ ارزیابی خطرات ملی جلوگیری از پولشویی و تمویل تروریزم که در دفتر مرکزی بانک جهانی در افغانستان برای سه روز دایر گردیده بود با توزیع تصدیق نامه ها به پایان رسید.

محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاول اول د افغانستان بانک طی صحبتی در این ورکشاپ از همکاری های همه جانبهٔ بانک جهانی با د افغانستان بانک قدردانی نموده و تعهد سپرد که در زمینه کاهش خطرات ملی پولشویی و تمویل تروریزم اقدامات جدی را روی دست خواهند گرفت.

هدف از راه اندازی این ورکشاپ تشریک معلومات پیرامون کاهش خطرات ملی پولشویی و تمویل تروریزم بوده که به اشتراک کننده گان معلومات مفصل ارائه گردید؛ در همین راستا گزارش تهیه شده توسط مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی افغانستان مورد بررسی قرار گرفته و مثبت ارزیابی گردید.

گزارش مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی افغانستان با همکاری بانک جهانی و ۴۵ نماینده از ۱۷ اداره مختلف بطور مشترک تهیه گردیده است که طی آن خطرات ملی پولشویی و تمویل تروریزم در ادارات مختلف مورد بررسی قرار گرفته است.

قابل یاد آوریست که متخصصین بانک جهانی از تهیه گزارش مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی افغانستان قدردانی نموده و این گزارش را در راستای کاهش خطرات ملی پولشویی و تمویل تروریزم بسیار مؤثر دانسته و این دستاورد بزرگ را برای افغانستان تبریک گفتند.

قابل ذکر است که مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی افغانستان در چوکات د افغانستان بانک فعالیت می نماید، همچنان برای کاهش خطرات ملی پولشویی و تمویل تروریزم پلان عمل را روی دست گرفته است که از ۲۰۲۰ الی ۲۰۲۲ میلادی به منصهٔ اجراء گذاشته خواهد شد.

# د افغانستان بانک په اداره کې د روانو پروژو په اړه معلوماتي غونډه








کابل، د ۱۳۹۸ کال د وري ۲۷ مه د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر په مشرۍ په دې بانک کې د روانو پروژو په اړه د بانکي عملیاتو، د بازار عملیاتو، اداینو، تدارکاتو او معلوماتي تکنالوژۍ له مسئولینو سره غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د افغانستان بانک د بېلابېلو آمریتونو مسئولینو ښاغلي نوشېر ته د افغانستان بانک په اداره کې د برېښنایي لېږد سیستم (ATS) او د بیه لرونکو پاڼو د امانت ایښودلو مرکز (CSD) پروژو د چارو د پرمختګ په اړه هر اړخیز معلومات ورکړل او یادونه یې وکړه چې د دې پروژو چارې نږدې بشپړې شوې دي او له یو شمېر ادارو سره یې آزمایښتي چارې هم پیل شوي دي چې ډېر ژر به ګټې اخیستې ته وسپارل شي.

د افغانستان بانک سرپرست په دې برخه کې له تر سره شویو چارو د مننې ترڅنګ له اړوندو ادارو سره په لا زیاته همغږۍ ټینګار وکړ او د دې پروژو بریالیتوب یې د افغانستان بانک لپاره یوه ستره لاسته راوړنه یاده کړه.

له غونډې وروسته د افغانستان بانک سرپرست او د غونډې ګډونوالو د دې بانک د اداینو، د بازار عملیاتو او معلوماتي تکنالوژۍ په آمریتونو کې د یادو پروژو له روانو چارو لیدنه وکړه.

# هیئت مدیره انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان تدویر جلسه نمود



کابل، ۲۶ سنبله ۱۳۹۸- جلسه هیئت مدیره انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان، تحت ریاست محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک و رئیس هیئت مدیره AIBF راه اندازی شد.

در این نشست ابتدأ محترم لطف الحق نور پسرلی رئیس انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان در مورد عملکرد های انستیتیوت از سال ۲۰۱۱ میلادی تا حال معلومات جامع را شریک نمود.

محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک طی این جلسه ضمن قدر دانی از پیشرفت، در رابطه به تسریع و بهبود هرچه بهترکارهای انستیتیوت مالی و بانکداری افغانستان، روی پلان های آینده این انستیتیوت و نقش آن در ارتقای ظرفیت های مسلکی کارمندان سکتور مالی و بانکی صحبت نمود.

قابل ذکر است که در این نشست علاوه بر محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک محترم لطف الحق نور پسرلی، بهرام برزین، داکتر سالم امید اعضای هیئت مدیره انستیتیوت مالی و بانکداری و سید عبدالغفور سادات مشاور مالی و بانکی د افغانستان بانک نیز اشتراک ورزیده بودند.




# په صادراتو او کورنیو عوایدو کې زیاتوالی

له بهرنیو هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو پراختیا او له دې هېوادونو سره د ځمکنیو او هوايي دهلیزونو رامنځته کولو د صادراتو د کچې لوړېدو ته لاره هواره کړې ده.

معلومات ښيي چې په روان مالي کال کې د هېواد صادرات د تېر مالي کال په پرتله زيات شوي دي او تمه ده چې د دې کال تر وروستيو به دا کچه نوره هم لوړه شي.

په روان مالي کال کې تر دې دمه څه باندې ۲۹ میلیارده افغانیو په کچه توکي صادر شوي چې د تېر کال په پرتله ۲ میلیارد افغانۍ زیاتوالي په کې راغلی دی، په تېر مالي کال کې تر دې مهاله د هېواد د صادراتو دا کچه څه باندې ۲۷ میلیارد افغانۍ وه.

په هېواد کې د هوايي دهلېزونو له جوړېدو را په دېخوا له ۳۶۰ په زياتو پروازونو کې د هوا له لارې شاوخوا ۵ زره ټنه وچې او تازه میوې او طبي بوټي هندوستان، چین، خلیجي هېوادونو، مرکزي آسیا، روسیې، ترکیې او اروپايي هېوادونو ته صادر شوي دي چې له دې ډلې څخه ۱۸سوه ټنه جلغوزي یوازې چین هېواد ته صادره شوې او د تېر په پرتله په خورا لوړه بيه پلورل شوي دي.

باید وویل شي چې له بهرنیو هېوادونو سره د هوايي دهلېزونو رامنځته کېدلو دې ته لاره هواره کړې ده چې د افغانستان تازه مېوې د دې هېواد په خپل نوم اروپايي هېوادونو ته لاره ومومي. له دې وړاندې د افغانستان میوې د یو شمېر نورو هېوادونو په نوم بهرنیو هېوادونو ته صادرېدلې، خو د دې دهلېزونو په رامنځته کېدو سره دا چاره هم له منځه تللې او په دې برخه کې د لا زیاتو پرمختګونو د رامنځته کېدو هیلې را پیدا شوې دي.

معلومات ښيي چې د افغانستان منې، هندوانې، انګور، شفتالو، انار او الوبالو هغه میوې دي چې اروپايي هېوادونو په ځانګړې توګه آلمان، هالنډ او فرانسې ته د ترکیې له لارې صادر شوي دي.

دا د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل دی چې د افغانستان مېوې د دغه هېواد په خپل نوم د هوايي دهلېزونو له لارې تر یادو اروپايي هېوادونو رسېږي.

د شمېرو له مخې افغانستان په کلني ډول شاوخوا نیم میلیون ټنه تازه میوې تولیدوي چې له دې ډلې ۲۰۰ تر ۲۵۰ زره ټنه له افغانستان څخه بهرنیو هېوادونو ته صادرېږي. د افغانستان تازه میوې په طبیعي توګه کرل کېږي او دې چارې د نړۍ په بازارونو کې د افغاني مېوو لپاره زيات مینوال او ښه بازار موندلی دی.

د یادونې وړ ده چې له اروپايي هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزه راکړه ورکړه د ګاونډیو هېوادونو په پرتله ګټوره تماميږي او دا چاره کولای شي د بزګرانو لپاره ښه عاید جوړ کړي.

دیادونې وړده چې په تېرو شاوخوا ۵ کلونو کې د افغانستان د صادراتو کچه په تدریجي ډول له ۵۱۷ میلیون ډالرو تر یو میلیارد ډالرو پورې رسېدلې ده او داسې هڅې روانې دي چې دا کچه به د روان کال تر پایه ۱.۵ میلیارد ډالرو ته پورته شي.

بلخوا د صادراتو له زیاتوالي سره سم معلومات ښيي چې هېواد ته د پاکستان څخه په وارداتو کې کموالی راغلی دی. د دې معلوماتو له مخې په روان مالي کال کې افغانستان ته د پاکستاني صادراتو په برخه کې تر دې دمه نږدې ۵ سلنه کموالی راغلی دی.

پاکستان په روان مالي کال کې افغانستان ته د ۱.۹۰ میلیارد ډالرو په ارزښت توکي را استولي چې دا کچه په تېر مالي کال کې تر دې دمه ۱.۴۰۰ میلیارد ډالرو ته رسېده او اوس په کې د شاوخوا ۳۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت کموالی راغلی دی.

»

افغان دولت له تېرو څو کلونو را په دېخوا په دې کار کوي چې په ګاونډیو هېوادونو خپله سوداګریزه اتکا را ټیټه کړي چې په همدې بنسټ یې له نورو هېوادونو سره د ځمکې او هوا له لارې د سوداګریزو لارو د رامنځته کولو هڅې پیل کړې دي.

بلخوا معلومات ښیي چې د عوایدو د راټولونې په سیستمونوکې د اصلاحاتو راتګ د دې لامل شوی دی چې په هېواد کې د تېر مالي کال په پرتله تر دې مهاله په عوایدو کې زیاتوالی راشي.

د معلوماتو له مخې د روان مالي کال لپاره په ملي بودجه کې د عوایدو لپاره ۱۸۸ میلیارده افغانۍ هدف ټاکل شوی ؤ. تر دې مهاله ۱۰۲ میلیارده افغانۍ راټولې شوې او دا د تېرکال په پرتله ۱۲ میلیارده افغانۍ چې ۱۴سلنه کېږي زیاتوالی ښیي او تمه ده چې د روان مالي کال تر پایه به په دې برخه کې نور زیاتوالی هم رامنځته شي.

د بانکونو له لارې د عوایدو راټولونه او په دې برخه کې پراخو اصلاحاتو دېته لاره هواره کړې ده چې د عوایدو په کچه کې د تېرو کلونو په پرتله زیاتوالی رامنځته شي.

د معلوماتو پر بنسټ په دې وروستیو کې د کابل په ده سبز او د کابل ختیځ دروازه کې د ټرانسپورټي تکسونو د راټولونې لپاره بانکي نمایندګۍ پرانیستل شوې دي.

د دې نمایندګیو له پرانیستل کېدو هدف د سوداګرو لپاره آسانتیاوې، له فزیکي په الکترونیکي ډول د ټرانسپورټي خدمتونو اړول، له اداري فساد سره مبارزه، روڼتیا او د راټولو شویو تکسونو په اړه د بېلانس رامنځته کېدل دي.

د یادونې وړ ده چې د دې ډول نمایندګیو رامنځته کول د سوداګرو لپاره دا آسانتیاوې رامنځته کوي چې په آسانۍ سره وکولای شي د خپلو سوداګریزو توکو تکسونه او نور اړوند مالیات په وخت سره د بانکي نمایندګیو له لارې په کم وخت او زیاتو ادارو له ګرځېدو راګرځېدو پرته مالیاتي ادارو ته تسلیم کړي.

له دې وړاندې په دې برخه کې داسې شکایتونه موجود وو چې سوداګر د خپلو مالیاتو او نورو اړوند تکسونو د تسلیمۍ لپاره په زیاتو ادارو ګرځي راګرځي او دوی یې له ستونزو سره لاس او ګریوان کړي دي.

په هېواد کې د دې ډول نمایندګیو په فعالېدو سره په دې برخه کې شته ستونزو ته د پای ټکی اېښودل کېږي او د ټرانسپورټي خدمتونو د وړاندې کوونکو لپاره د زیات شمېر نورو آسانتیاوو د رامنځته کېدو لامل کېږي.

بلخوا له فزیکي په برېښنایي ډول د مالیاتو او نورو تکسونو اړول دېته لاره هواروي، ترڅو په دې برخه کې د عوایدو له تېښتې مخنیوی وشي او هېڅ ډول مالي فساد ته په کې لاره پاتې نه شي، په برېښنایي ډول د مالیاتو په راټولونه کې د هېڅ ډول درغلۍ لپاره لاره نشته او دا چاره په پوره روڼتیا سره تر سره کېږي.

له دې وړاندې په فزیکي ډول د مالیاتو په راټولونه کې د درغلیو د شتون خبره کېده، خو تمه ده چې د دې نمایندګیو په پراختیا سره به یادې درغلۍ په ټولیزه توګه له منځه لاړې شي او په دې برخه کې به لا ډېره روڼتیا رامنځته شي.

سرچینې:

۱ – د افغانستان تازه میوې د آلمان بازارونو ته رارسیدلي/دویچه ویله پښتو/ افغانستان، د خپرېدو نېټه: 02.09.2019
https://www.dw.com/ps/د-افغانستان-تازه-میوې-د-آلمان-بازارونو-ته-رارسیدلي/a-50259664

۲ – افغانستان ته د پاکستان صادرات لږ شوي، راپور: رحمان الله/ بي بي سي پېښور، د خپرېدو نېټه: 12 جولای 2019
https://www.bbc.com/pashto/pakhtunkhwa-48965883

۳ – تحولات اقتصادی افغانستان / ضیا دانش، د خپرېدو نېټه: Mar 13، 2018
https://www.pajhwok.com/dr/opinions/تحولات-اقتصادی-افغانستان-در-سال-۱۳۹۶

۴ – د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ملي عواید له ټاکل شوي هدف زیات راټول شوي دي/ د مالیې وزارت
د خپرېدو نېټه: چهارشنبه ۱۳۹۸/۴/۱۹
https://mof.gov.af/ps/د-مالیې-وزارت-ویاند-د-۱۳۹۸-مالي-کال-په-لومړیو-شپږو-میاشتو-کې-ملي-عواید-له-ټاکل-شوي-هدف-زیات-راټول

# بانکداری اسلامی و سیر تاریخی آن





در چارچوب نظام بانکداری اسلامی همه فعالیت ها بر مبنای شریعت اسلامی توسط بانک‌ها و مؤسسات مالی صورت میگیرد. تطبیق احکام شریعت اسلامی در معاملات رایج اقتصادی و تجارتی مشخصاً در چارچوب بانکداری، رشد و تقویه اقتصاد جامعه از طریق ارائه خدمات بانکداری طبق اصول شریعت و مقررات اسلامی و تلاش در جهت توزیع و تقسیم نفع و ضرر میان بانک و مشتری، اهداف اساسی بانکداری اسلامی را تشکیل می دهد.

**پیشینه تاریخی بانکداری اسلامی**

بانک و نهاد مالی اسلامی برای اولین بار در سال ۱۳۶۳ هجری شمسی یعنی تقریباً ۵۵ سال قبل در مصر به عنوان بانک های پس انداز اسلامی تأسیس گردید و بنابر اصرار حکومت مصر بر اینکه قوانین بانک های تجارتی بالای این بانکها عملی گردد، در سال ۱۹۶۸ میلادی این بانک تعطیل گردید و در عوض در سال ۱۹۷۱ میلادی بانک اجتماعی ناصر منحیث یک نهاد مالی اسلامی تأسیس شد و بعداً فعالیت بانک های اسلامی در کشور های پاکستان، ایران و آسیای جنوب شرقی گسترش یافت.

بانک اسلامی دوبی در سال ۱۹۷۵ میلادی و خانه تأمین مالی کویت در سال ۱۹۷۷ میلادی تأسیس شدند. همچنان بانک اسلامی فیصل مصر و سودان توسط شهزاده

»

محمد بن فیصل سعودی در سال ۱۹۷۷ و ۱۹۷۸ میلادی شکل گرفت.

در سال ۱۹۷۹ میلادی، ایران بانکداری اسلامی را شامل سیستم بانکی نمود و پس از آن کشور پاکستان در سال ۱۹۸۰ میلادی شروع به اسلامی ساختن سیستم بانکداری نمود. علاوه برآن بانک های اسلامی کشور اردن در سال ۱۹۷۸ میلادی، بانک اسلامی بحرین در سال ۱۹۸۱ میلادی و بانک اسلامی قطر در سال ۱۹۸۳ میلادی تاسیس شدند.

همچنان نخستین مؤسسه مالی اسلامی در مالیزیا و بنگله دیش در ۱۹۸۳ میلادی ایجاد شد. در سال ۱۹۷۳ میلادی بانک امانه فلیپین بمنظور رفع نیازمندی های بانکی مسلمانان توسط دولت آن کشور شکل گرفت، در حالیکه این بانک کاملاً اسلامی نبود. در سال ۱۹۸۳ میلادی خانه تأمین مالی اسلامی در لوگزامبرگ تاسیس گردید. بانک بین المللی اسلامی در دنمارک و شرکت سرمایه گذاری اسلامی ملبورن در استرالیا ایجاد شد.

در سال ۱۹۸۴ میلادی شرکت سرمایه گذاری و سرمایه داری الرجحی با اخذ جواز فعالیت به بزرگترین بانک اسلامی در عربستان سعودی و ایجاد نمایندگی در خارج ساحه فعالیت خویش را گسترش داد.

در سال ۱۹۸۵ میلادی یک تاجر سعودی بانک اسلامی دیگری را بنام البر در عربستان تأسیس کرد. بانک بین المللی اسلامی البر در عرصه خدمات بانکداری اسلامی مخصوصاً در سال ۱۹۹۲ میلادی در لندن فعالیت های چشم گیری داشت، اما بعدها فعالیت نمایندگی مقیم لندن این بانک متوقف شد.

بالاخره شرکت های بزرگ تجارتی به سیستم بانکداری اسلامی علاقمند شدند و برخی از بانک‌های بزرگ اروپایی محصولات بانکداری اسلامی را از طریق بخش Islamic window این کمپنی ها مانند بانک سرمایه گذاری HSBC، شرکت بانکداری سویس، شرکت سرمایه گذاری دوسویه و غیره ارائه کردند.

نتیجه گیری:

طوریکه بانکداری اسلامی با ارائه و عرضه محصولات بانکی اسلامی در بسیاری از سیستم های مالی جهان مورد توجه قرار گرفته است و علاقه مندی کشورهای مختلف و حتی بسیاری از کشورهای غیر اسلامی نیز به سیستم بانکداری اسلامی به عنوان نمونه از سیستم بانکداری کارا بخصوص در مواقع بحران و نوسانات اقتصادی دانسته میشود، آغاز فعالیت های بانکداری اسلامی در افغانستان نیز فرصت خوبی در سکتور بانکداری شمرده میشود. زیرا مردم از لحاظ مذهبی آماده سپردن پول هایشان به بانک های اسلامی هستند.

لهذا گسترش بانکداری اسلامی از طریق آگاهی دهی خدمات بانکداری اسلامی به مردم و جذب مردم برای سرمایه گذاری از طریق بانک های اسلامی سبب رشد، توسعه اقتصادی و بالاخره رفاه اجتماعی می گردد.



محبوب الله شریفی

مدیر خطرات سرمایه گذاری آمریت عملیات بازار

منابع:

1. مجله اقتصادی ماهنامه بررسی مسائل و سیاست های اقتصادی شماره های ۶-۷ سال ۱۳۹۱
2. نظام بانکداری جلد چهارم مجموعه علمی و تحقیقی از دوکتور تورنجنرال ارکان حرب محمد انور کوهستانی



# د سپما ارزښت

سپما د عاید هغه برخه ده چې له لګښت څخه پاتې کیږي، یا هم دعاید او لګښت ترمنځ توپیر ته سپما وایي.

په نننۍ نړۍ کې ډېری کسان په دې آند دي چې وایي، نن له خپلو شتو ګټه پورته کړئ او د راتلونکې فکر مو له سره وباسئ، دوی د سپما له ارزښت څخه انکار کوي او وایي:

نن لګښت وکړئ، د سبا غم مو له سره وباسئ. د دې کسانو په باور نورې د میراتون هغه کیسې چې ویل به یې په اوړي کې کار وکړه او په ژمي یې ولګوه په کار نه راځي.

دوی وایي، په نننۍ نړۍ کې د لاس بندېدو ټولې لارې تړلې دي، زیاتې آسانتیاوې رامنځته شوې او داسې ورځې نه راځي چې په ټوله معنا له مالي ستونزو سره مخ شي، خو د چارو کارپوهان بیا په دې باور دي چې دا چاره د کورنیو راتلونکی ژوند او پرمختګ ګواښلی شي.

دا کارپوهان ټینګار کوي، د دې لپاره چې د راتلونکې لپاره تیاری ولرو او د یوې ښې او بدې لپاره مو بل چا ته لاس اوږد نه وي او راتلونکې مو له ګواښ سره مخ نه شي، نو لازمه ده چې په خپلو ټولو لګښتونو کې سپما وشي.

که څه هم ډېر کله د پیسو په لګښت کې د سپما پیل تر ټولو سخت کار ګڼل کیږي، خو په دې مقاله کې به تاسو ته د پیسو د سپما په اړه ګام په ګام داسې چارې روښانه کړو چې په تر سره کولو سره به یې تاسو په ربښتني ډول سره وکولای شئ په خپلو لګښتونو کې سپما وکړئ.

د پیسو د سپما لپاره تر ټولو غوره کار دا دی چې تر هر څه وړاندې په دې پوه شئ چې تاسو په میاشتني ډول څومره پیسې لګوئ، په دې چاره د پوهېدو لپاره په کار ده چې خپل ټول لګښتونه ثبت کړئ. هغه څه مو چې ثبت کړي دي، ډلبندي کړئ او په برخو یې ووېشئ.

د بېلګې په توګه: خوراکي توکي، د لیږدونې (لیږد را لیږد وسایل) او نور ټول لوی او واړه لګښتونه یادداشت کړئ... په پای کې د ټولو لګښتونو پایلې راټولې کړئ او په ټولیز ډول یې ثبت کړئ.

اوس مو چې د خپلې یوې میاشتې د لګښتونو انځور واخیست او ثبت مو کړل، کولای شئ چې خپل لګښتونه درجه بندي کړئ. لګښتونه مو راکم کړئ او ډاډمن شئ چې د خپلې راتلونکې لپاره مو ګټور ګام اخیستی دی. پام مو وي چې په بودجه بندۍ کې مو ټول لګښتونه شامل وي، لکه د موټر تېل، د کور کرایه او داسې نور.

په میاشتني ډول خپلو عوایدو او لګښتونو ته په کتو، په خپله بودجه بندۍ کې مو سپما ډلبندي کړئ او هڅه وکړئ چې سپما مو د اصلي او خالص عاید څخه ۱۰ یا ۱۵ سلنه ووسي.

که د ژوند چارې مو اجازه نه درکوي چې سپما وکړئ، نو د دې وخت راسېدلی دی چې خپل لګښتونه راکم کړئ. مخکې له دې چې د خپل د کور او یا هم د موټر د لګښتونو څخه راکم کړئ، دا به غوره وي چې خپل اضافي لګښتونه راټیټ کړئ. لکه، د تفریح، رستورانت ته تللو او داسې نور لګښتونه...

د سپما لپاره د موخو ټاکل، تاسو ته آرامتیا درکوي. په دې کار سره تاسو کولی شئ چې ځان په دې پوه کړئ چې څومره وخت کې خپلو موخو ته رسېدلای شئ. ځینې هغه موخې کېدای شي لنډمهاله وي چې په عام ډول د یو کال څخه نېولې تر درې کلونو پورې وخت نیسي.

۱. د بېړنیو حالاتو د لګښتونو لپاره سپما د بېلګې په توګه د بېکارۍ، ښې، بدې او نورو ضروري حالاتو لپاره.

۲. د موټر د اخېستلو لپاره سپما

۳. د رخصتیو ورځو لپاره سپما

د لوړې پانګې اچوونې لپاره سپما چې ممکنه ده څو کلونه یا حتا څو لسیزې وخت ونیسي او کېدای شي دا برخې پکې شاملې وي:

- د بېکارۍ یا تقاعد وختونو لپاره سپما
- د اولادونو زده کړو او د هغوی د نورو لګښتونو لپاره سپما
- د کور د اخېستلو او یا هم د اوسنۍ کور د بیا رغونې لپاره سپما

کله چې د سپما په پار ګام اخېستل کېږي، نو د بېلابېلو اشخاصو لومړیتوبونه توپیر کوي. دا تاسو پورې اړه لري چې تاسو ته د سپما کومې موخې لومړیتوب او ډېر ارزښت لري. د دې پروسې یوه برخه د هغه وخت ټاکل دي چې تاسو باید خپلې موخې ته د رسېدو لپاره ورته صبر وکړئ. دا باید معلوم کړئ چې د میاشتې څو افغانۍ سپما تاسو خپلې موخې ته رسولی شي.

**بېلابېلې سپماوې او د بېلابېلو موخو لپاره د پانګې اچونې پلان**

که د لنډمهاله هدف لپاره پانګه اچونه کوئ، نو دا کړنلارې په ډاډه زړه سره وازمایئ:

د لنډمهاله عادي حساب پرانېستل.

د اوږد مهاله حساب پرانستل چې د لنډ مهاله حساب څخه لوړ نرخ لري.

د اوږدمهاله پانګې اچوونې لپاره:

د عمري (دایمي) بیمو اخیستل او پانګه اچوونه

د سهام او مشارکت پاڼې اخیستل

**د سپما اتومات (خپل چاري) حسابونه پرانیزئ**

ډېری بانکونه د سپما ځانګړي حسابونه لري، که تاسو دا ډول یو حساب ولرئ او بانکونو ته اجازه ورکړئ چې ستاسو د معاش په راتګ سره د سپما حساب ته یوه ټاکلې سلنه پیسې ولېږدوي په دې سره به تاسو داسې سپما وکړئ چې په ورځنیو چارو او لګښتونو به مو هېڅ اغېز و نه کړي او ډېر ژر به مو هدف ته ورسوي.

**د سپما د پرمختګ څخه مو څارنه وکړئ**

د هرې میاشتې په اوږدو کې خپله سپما وڅارئ او فکر پرې وکړئ.

دا کار به نه یوازې دا چې ستاسو د سپما په تثبیتولو کې مرسته وکړي، بلکې په دې به مو بریالي کړي چې دې برخه کې خپلې ستونزې پیدا او حل کړئ.

د یادونې وړ ده چې دا ساده او آسانه لارښوونې به تاسو سره د پیسو په سپما کې مرسته وکړي او تاسو ته به دا انګېزه درکړي چې ډېرې پیسې سپما کړئ او ژر خپلو موخو ته پرې ورسېږئ.

پاتې د نه وي چې له دې سربېره یو شمېر نورې لارې چارې هم شته، ترڅو د هغه په وسیله سپما وکړو خو په دې مقاله کې یوازې په ذکر شویو مواردو بسنه کوو.

**سرچینې:**


۱ –هفت روش ساده، اما عملی برای پس انداز، لیکوال:محسن، د خپرېدو نېټه:1390/09/21

http://www.alamto.com/7-روش-ساده-اما-عملی-برای-پس-انداز.html

۲ – د سپما ۸ ساده لارې/ Bank of America Corporation/ 8 simple ways to save money

https://bettermoneyhabits.bankofamerica.com/en/saving-budgeting/ways-to-save-money

۳– د سپما ښېړنی لارې چارې/ How to Save Money Fast

https://www.thesimpledollar.com/little-steps-100-great-tips-for-saving-money-for-those-just-getting-started/

## د افغانستان بانک عملیاتي کړنو ته ځغلنده کتنه

### د نړیوال بانک له استازو سره غونډه



کابل، د ۱۳۹۸ کال د وږی ۶ مه — د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر په مشرۍ د نړیوال بانک له استازو سره د افغانستان بانک په اړانه کې د روانو پروژو په اړه غونډه جوړه شوه.

په دغه غونډه کې چې د افغانستان بانک د عالي شورا په تالار کې جوړه شوې وه، د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر د نړیوال بانک له همکاریو مننه وکړه او د دې بانک په لا زیاتو همکاریو یې ټینګار وکړ.

په یاده غونډه کې د نړیوال بانک استازو هم له خپل لوري د افغانستان بانک سره د لا زیاتو همکاریو ژمنه وکړه.

### هیئت رهبری د افغانستان بانک با نمایندگان اتحادیه صرافان دیدار نمود



کابل، ۱۶ سنبله ۱۳۹۸– محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک با نماینده گان اتحادیه صرافان در دفتر مرکزی د افغانستان بانک، تدویر جلسه نمود.

طی این نشست، محترم واحد الله نوشیر از نمایندگان صرافان خواست تا مشکلات خود را با هیئت رهبری د افغانستان بانک در میان گذاشته تا در جلسه شورای عالی بانک که قرار است در پایان همین ماه برگزار شود، مورد بحث قرار داده شود و راه حل های مناسب در چوکات قوانین و مقررات در نظر گرفته شود.

متعاقباً، نمایندگان صرافان برخی مشکلات صرافان را با سرپرست د افغانستان بانک در میان گذاشته و از هیئت رهبری تقاضا نمودند تا در رفع آن اقدام نموده و سهولت های را به آنها فراهم نماید.

قابل یاد آوریست که در این نشست برعلاوه نمایندگان صرافان، شماری از آمرین و کارمندان آمریت های مختلف د افغانستان بانک نیز اشتراک ورزیده بودند.

# تدویر جلسه کمیته مالی توسعه سکتور خصوصی



کابل، ۴ سنبله ۱۳۹۸- یازدهمین جلسه کاری کمیته مالی توسعهٔ سکتور خصوصی تحت ریاست محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک در دفتر مرکزی د افغانستان بانک، تدویر گردید.

در این جلسه که در تالار شورای عالی د افغانستان بانک راه اندازی گردیده بود، روی نهایی سازی مرحله دوم پلان عمل (۵/۵۰ )، و اهمیت NPP،PSD و بعضی موضوعات مرتبط دیگر بین اشتراک کننده گان بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

طی این جلسه محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک روی هماهنگی ادارات همکار در بخش سکتور خصوصی تاکید نموده و همکاری بین ادارات متذکره را در این راستا مؤثر عنوان نمود.

در این جلسه که اعضای اولین گروه کاری کمیته مالی توسعه سکتور خصوصی نیز اشتراک ورزیده بودند، تصمیم اتخاذ گردید تا در جلسه آینده کمیته مالی توسعه سکتور خصوصی در باره پیشرفت ها و دستاورد های این کمیته پریزنتیشن های همه جانبه ارائه شود.

قابل یاد آوریست که د افغانستان بانک همواره تلاش نموده تا با استفاده از راهکاری های مختلف زمینه رشد و توسعه هرچه بیشتر سکتور خصوصی را فراهم نماید.

# د صرافانو ټولنې له استازو سره غونډه

کابل، ۱۳۹۸ د وږي ۲۷ مه – د افغانستان بانک د مالي څارنې د عمومي آمریت د آمر ښاغلي محمد سلیم صلاح په مشرۍ د صرافانو د ټولنې له استازو سره د صرافۍ په مقرره کې د تعدیل او اصلاحاتو په اړه غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د صرافۍ د مقررې په اړه چې یو شمېر اصلاحات په کې راوړل شوي دي د مالي څارنې آمریت د مسئولینو له لوري د صرافانو د ټولنې له استازو سره شریک شول او په دې اړه د نظرونو تبادله وشوه.

د یادونې وړ ده چې له دې وړاندې د صرافانو ټولنې غوښتنه دا وه چې د صرافۍ په مقرره کې د یو شمېر آسانتیاوې رامنځته شي، ترڅو دوی وکولای شي په دې برخه کې غوره خدمتونه وړاندې کړای شي.

باید وویل شي چې په دې غونډه کې د صرافیو د مقررې په برخه کې په راتلونکو پلانونو هم خبرې وشوې.

پاتې د نه وي چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې د مالي خدمتونو د پراختیا په برخه کې پرمختګونه، لازم اصلاحات او روڼتیا رامنځته شي، ترڅو هېوادوال د هېواد په ټولو برخو کې په آسانۍ سره دې خدمتونو ته لاسرسی پیدا کړي.

# تدویر ورکشاپ های آموزشی سیستم های ثبت اعتبارات عامه در ولایات کندهار و بامیان

د افغانستان بانک ورکشاپ های آموزشی سیستم های ثبت اعتبارات عامه را در زون جنوب غرب (کندهار) و زون مرکز در ولایت بامیان راه اندازی نمود.

هدف از تدویر این ورکشاپ ها شناسایی سیستم های ثبت حقوق اموال رهنی و ثبت سیستم اعتبارات عامه بوده که توسط بانک جهانی تمویل و راه اندازی گردیده است.

در ورکشاپ اول که در ولایت کندهار راه اندازی گردیده بود، محترم عبدالناصر سهاک معاون آمریت عمومی ثبت اعتبارات عامه، در مورد سیستم های ثبت اعتبارات عامه صحبت نمود.

معاون ثبت اعتبارات عامه گفت که هم اکنون بانک های تجارتی و مؤسسات مالی در کشور در مقابل ۱۴ ابزار وام می دهند که نقش مهمی در توسعه و پیشرفت تشبثات خُرد و کوچک دارد.

در همین حال، محترم محمد نعیم اکبری آمر زون جنوب غرب پیرامون مزایای سیستم ثبت اعتبارات عامه صحبت کرد و ایجاد چنین ورکشاپ ها را با ارزش عنوان نمود.

در ورکشاپ بعدی که بتاریخ ۲۴ سنبله سال روان در ولایت بامیان راه اندازی شده بود، محترم داکتر عزیز الله سادات آمر عمومی ثبت اعتبارات عامه د افغانستان بانک طی این برنامه، روی دسترسی به وجوه مالی با استفاده از رهن اموال منقول صحبت نموده گفت که بدون دسترسی به وجوه مالی نمی توان به رشد و انکشاف متوازن اقتصادی نایل گردید.

متعاقباً محترم عبدالناصر سهاک معاون آمریت عمومی ثبت اعتبارات عامه د افغانستان بانک در مورد دو سیستم ثبت اعتبارات (ثبت اعتبارات و ثبت حقوق رهنی بر اموال منقول) معلومات ارائه داشته و از مزایا و تسهیلات لازم که در سکتور مالی کشور از طریق قانون رهن اموال منقول در معاملات بانکی تعریف گردیده







است، به اشتراک کننده گان معلومات ارائه نمود.

سپس محترم یوسف سلیم آمر عمومی بانکداری اسلامی د افغانستان بانک، اهمیت بانکداری اسلامی را به معرفی گرفته و نقش آنرا در شرایط فعلی، نهایت مؤثر و ارزنده گفته افزود که در عصر حاضر در کنار بانکداری سنتی بانکداری اسلامی میتواند زمینه توسعه هرچه بیشتر دسترسی به وجوه مالی در کشور را فراهم نماید.

متعاقباً محترم عتیق الله عتیق معاون ولایت بامیان ضمن سپاسگذاری از راه اندازی این برنامه آگاهی دهی، همچو برنامه ها را برای بهبود اقتصاد ولایت بامیان، نهایت ارزنده و مفید عنوان نمود.

گفتنی است که این ورکشاپ ها برای نماینده گان بانک های تجارتی، مؤسسات مالی و تجار راه اندازی گردیده بود.

# آغاز برنامه های تبلیغاتی ترویج پول افغانی در مکاتب

کابل، ۲۴ سنبله ۱۳۹۸– د افغانستان بانک برنامه های وسیع تبلیغاتی ترویج پول افغانی را در شماری از مکاتب شهر و ولایات آغاز نمود. مدیریت آگاهی عامه آمریت عمومی دفترریاست د افغانستان بانک با مراجعه به مکاتب متوسطه مستوره افغان و متوسطه نمبر ۱۹ جمال مینه در شهر کابل افتتاح این برنامه وسیع را نموده و قرار است طی روز های آینده، این کمپاین در ولایات جنوب، غرب، شرق، جنوب غرب و جنوب شرق نیز آغاز و برای سه ماه ادامه یابد. هیئت اعزامی د افغانستان بانک حین مراجعه به مکاتب ضمن صحبت در مورد پول ملی، اهمیت استفاده از آن در داد و ستُد های مالی و اضرار استفاده از پول بیگانه گان در معاملات داخلی، بعضی مواد تبلیغاتی – تشویقی که شامل بکس مکتب، قلم، کتابچه، رساله های آموزشی ، جدول ضرب زبانی برای متعلمین و گیلاس و ساعت برای معلمین و اداره مکتب میشود را نیز به متعلمین و اداره مکتب توزیع می نماید.

# د افغانستان بانک د ختیځ زون آمریت لخوا محصلینو ته علمي سیمینار

سه شنبه، د ۱۳۹۸ کال د وږي ۲۶ مه – د افغانستان بانک د ختیځ زون آمریت لخوا د روښان پوهنتون د اقتصاد پوهنځي محصلینو او استادانو ته د افغانستان بانک د پولي سیاست تر عنوان لاندې علمي سیمینار جوړ شو.

په دې سیمینار کې د افغانستان بانک د ختیځ زون اقتصادپوه ښاغلي تاج محمد تکمین ګډونوالو ته د افغانستان بانک د تاریخچې، دندو، فعالیتونو، تشکیلاتي جوړښت، موخو، لاسته راوړنو، پولي سیاست، د پولي سیاست ډولونو، وسایلو او اهدافو په اړه هر اړخیز معلومات ورکړل.

باید ووېل شي چې د دې سیمینار په ترڅ کې د کاغذي بانکنوټونو په تاریخچې، په راکړو ورکړو کې د افغانیو په دودولو او په کور دننه د بهرنیو پیسو د کارولو په زیانونو هم خبرې وشوې.

د دې سیمینار د وړاندې کولو په مهال ښاغلي تمکین یادونه وکړه چې د افغانستان بانک په تېرو څو کلونو کې ډېر پرمختګ کړی او دا بانک اوس د سیمې په کچه یو بریالی بانک ګڼل کیږي.

په ختیځ زون کې د افغانستان بانک د اقتصادپوه له لوري په اړوندو برخو کې د معلوماتو تر وړاندې کولو وروسته د روښان پوهنتون رییس ښاغلي فاتح ګل شینواري خبرې وکړې او دا سیمینار یې د یاد پوهنتون د استادانو او محصلینو لپاره ګټور یاد کړ.

نوموړي د افغانستان بانک له مسئولینو د منني ترڅنګ هیله وښوده چې په راتلونکې کې هم دا ډول سیمینارونه جوړ شي ترڅو محصلین په دې برخه کې لا زیات معلومات تر لاسه کړي.

د سیمینار په وروستۍ برخه کې د روښان پوهنتون علمي مرستیال ښاغلي توریالي همت دا سیمینار خورا ګټور او مثبت یاد کړ او له اړوندو مسئولینو یې غوښتنه وکړه چې په راتلونکي کې هم د محصلینو لپاره دا ډول علمي سیمینارونه جوړ کړي.

د یادونې وړ ده چې په دې سیمینار کې د اقتصاد پوهنځي د رییس او استادانو ترڅنګ د دې پوهنځي نږدې ۱۵۰ تنه محصلینو هم ګډون کړی وو.

# تدویر ورکشاپ آموزشی برای صرافان و فراهم کننده گان خدمات پولی

کابل، ۴ سنبله ۱۳۹۸– د افغانستان بانک در تداوم راه اندازی برنامه های آموزشی برای صرافان و فراهم کننده گان خدمات پولی این بار نیز برای شماری از صرافان و فراهم کننده گان خدمات پولی شهر کابل، برنامه آموزشی را در رابطه به مقرره تنظیم فعالیت های صرافان و فراهم کننده گان خدمات پولی و شرایط صدور جواز های شرکت های صرافی و خدمات پولی، راه اندازی نمود.

محترم سید محسن سادات معاون آمریت عمومی نظارت امور مالی د افغانستان بانک حین صحبت افتتاحیه این ورکشاپ گفت که د افغانستان بانک همواره تلاش می نماید تا وظایف صرافان و فراهم کننده گان خدمات پولی با معیار های جهانی برابر گردد که برای دستیابی به این امر لازم است تا پیرامون قوانین و مقررات بانکی، آگاهی کامل موجود باشد، از اینرو همچو برنامه های آموزشی راه اندازی میگردد.

متعاقباً محترم حاجی امین جان خوستی، معاون اتحادیه صرافان سرای شهزاده در رابطه به مشکلات صرافان صحبت نموده، تطبیق قوانین را در راستای نظامند ساختن فعالیت های صرافان نهایت سودمند عنوان نموده و وعده هر نوع همکاری را در زمینه تطبیق و رعایت قوانین مالی، سپرد.

در اخیر این برنامه، محترم شاپور میاخیل مدیر نظارت از صرافان و فراهم کننده گان خدمات پولی آمریت عمومی نظارت امور مالی، پریزنتیشنی را در رابطه به مسئولیت های صرافان و فراهم کننده گان خدمات پولی در چوکات قوانین و مقررات، ارائه نموده و به سوالات اشتراک کننده گان پاسخ ارائه نمود.

قابل یاد آوریست که این برنامه آموزشی برای ۴۶۰ تن از صرافان و فراهم کننده گان خدمات پولی شهر کابل مدنظر گرفته شده و به مدت ۹ روز ادامه خواهد داشت که درهر روز به تعداد ۵۰ تن از صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی تحت پوشش این برنامه قرار میگیرند.

# دوازدهمین جلسه کمیته کاری پرایسک راه اندازی گردید

کابل، ۲۶ سنبله ۱۳۹۸– دوازهمین جلسه کاری اعضای نخست انکشاف سکتور خصوصی (پرایسک) تحت ریاست محترم میر عزیز برکی آمر عمومی عملیات بانکی د افغانستان بانک راه اندازی گردید.

در این جلسه روی توسعه پروسه آگاهی دهی در زمینه های کاهش هزینه های امنیتی بانک ها، توسعه خدمات مالی و توسعه سیستم جمع آوری عواید به شکل الکترونیکی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در جلسه متذکره بعد از بحث و تبادل نظر روی موضوعات مربوطه، تصمیم اتخاذ گردید تا در مورد تطبیق مفاد جلسه در نشست آینده معلومات با اعضای کمیته شریک گردد.

قابل ذکر است که در این جلسه محترم میر احمد شکیب آمر عمومی توسعه خدمات مالی و نماینده گان کمیته اول کاری توسعه سکتور خصوصی نیز اشتراک نموده بودند.

# تأمین انرژی؛ یکی از ضروریات اقتصاد

در قرن اخیر سیر تحول اقتصادی همیشه با کار برد متنوع انرژی همراه بوده، اما در دهۀ هفتاد میلادی نقش انرژی در تحولات اقتصادی جایگاه خاص خود را پیدا کرده است. در این دوره ارتباط میان انرژی و رشد اقتصادی در توجه خاص تحلیلگران اقتصادی جاگرفته که در این بخش تا حال مطالعات گسترده با استفاده از روش های مختلف در کشورهای گوناگون صورت گرفته است.

افغانستان هم به عنوان یک کشور دارای منابع طبیعی فراوان و وجود معادن بزرگ نفتی زیر زمینی و پوتانسیل های بالقوه انرژی، می تواند با استفاده از منابع فوق رشد نماید. بناءً لازم است تا برنامه ریزی برای تولید انرژی و مصرف آن به دقت صورت گیرد. در این مورد عوامل مختلف مانند انواع سرمایه و نیروی کار اعم از متخصص و غیر متخصص در الگوی جدید اقتصادی باید جا داده شود.

دستیابی به مُدل بهتر برای تأمین انرژی در شرایط امروز کشور به یک ضرورت تبدیل شده است. همچنین، برآورد میزان برداشت هریک از منابع انرژی در طی یک سال نشان میدهد که میزان استفاده از انرژی‌های تجدید پذیر و دوستدار محیط برای اقتصاد کشور ارزشمند است.

افغانستان در حال حاضر نیازمند ۱۰۰۰ میگاوات انرژی برای روشن ساختن خانه ها و چرخش اقتصادی اش بوده و نیازمندی سوختی اش هم سالانه در حدود ۱.۸ میلیون تن برآورد شده است.

این کشور سالانه به ارزش ۲۵۰ میلیون دالر انرژی از کشور های تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان و ایران وارد می نماید، در حالیکه خودش در جریان یک سال قادر به تولید ۱۲۲ هزار میگاوات انرژی قابل تجدید است و از این مدرک می تواند به بزرگترین صادر کنندۀ برق در منطقه مبدل شود.

اگر راهکارهای روشن در این زمینه ساخته شود و به مشکلات سکتور خصوصی رسیدگی گردد، آنان نیز حاضر اند تا در این بخش سرمایه گذاری کنند تا افغانستان از وابستگی به مواد سوخت و انرژی به بیرون از کشور که هم از نگاه امنیتی و هم از نظر اقتصادی خطرناک است، رهایی یابد.

طوریکه تجربه نشان داده است، برق وارداتی در جریان زمستان و حتی حین جنگ ها قطع می گردد و علاوه بر اینکه مردم در تاریکی قرار می گیرند، میلیون ها دالر به شرکت های تولیدی ضربۀ اقتصادی وارد گردیده و به تبع آن قیمت نفت و گاز وارداتی نیز بالا می رود.

افغانستان تا حال دارای شبکه های برق مطمین نبوده که بتواند برق ارزان و قابل اعتماد را برای سرمایه گذاران و شهروندان عرضه نماید. هم اکنون هر فرد باشندۀ کشور با مصرف ۲۵ کیلووات ساعت برق درسال، کمترین میزان مصرف سرانه برق را در میان کشورهای همسایه‌اش همانند پاکستان با ۴۴ کیلووات ساعت و تاجکستان با ۲۳۸ کیلووات ساعت، دارد.

بناءً لازم است تا وضعیت توزیع انرژی از حالت کنونی بیرون شده و به آن به عنوان یکی از اولویت های اصلی کشور نگرسته شود. زیرا نبود شبکه سراسری برق در افغانستان برنامه جایگزین برای انرژی وارداتی، بخصوص برقی که از کشورهای آسیایی میانه وارد می‌شود، چالش دیگری را برای افغانستان ایجاد کرده است. به همین منوال باید یک برنامه منظم درباره تولید انواع انرژی صورت گیرد تا از منابع باد، آفتاب و آب برای تولید انرژی مؤثر استفاده کرد.

خوشبختانه در این اواخر مقامات مسئول در کشور تصمیم گرفته اند تا ۳۳۴ پروژۀ بندهای ذخیروی کوچک آب در ۳۴ ولایات کشور ایجاد گردد، مسئولیت ساخت و ساز همه بندهای مذکور با شرکت های ساختمانی داخلی قرار داد می گردد. در جریان سال های آینده ممکن تعداد آنها به یک هزار بند کوچک برسد. در حال حاضر ۱۵۸ پروژۀ آن آمادۀ قرار داد است. هدف از ایجاد چنین پروژه ها از جمع آوری آب باران، کاهش خطرات سیل، فرسایشات خاک، بهبود محیط زیست، احداث چراگاه ها و تغذیۀ آب های زیر زمینی گفته شده است. البته در صورت اجرایی شدن پروژه های فوق اشتغال زایی نیز به میان می آید. این بندها در مسیر دریاهای مانند دریای کابل، هلمند، آمو، حوزۀ دریایی هریرود و دریای مرغاب که ولایات مختلف کشور را در بر می گیرد، ایجاد می گردد و این پروژه ها به ارزش ۵۶ میلیون دالر از بودجۀ دولت به همکاری بانک انکشاف آسیایی ساخته خواهد شد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


۱- تاریخ نشر ۱۳۹۸/۱۲/۶/ http://internalweb.dab/da/Enews/

/ عنوان / روند تدارکاتی ۳۳۴ بند ذخیره یی گاه کوچک آغاز شد-۲ Bakhtar News.com.af

تاریخ نشر کابل: ۹ سنبله ۱۳۹۸

۲- https://mew.gov.af

# اقتصادي خبرونه

**نخستین قطار حامل کالاهای صادراتی افغانستان به چین رفت**

**نخستین قطار حامل اجناس صادراتی افغانستان بتاریخ ۱۵ سنبله ۱۳۹۸ بندر حیرتان در شمال افغانستان را به مقصد چین ترک کرد و قرار است که تا ۱۲ روز دیگر به چین برسد.**

این قطار با حضور مقام‌هایی از کشورهای چین، ازبکستان، قزاقستان و افغانستان در یک مراسم رسمی عازم شهر ایوو (Yiwu) استان چجیانگ (Zhejiang) چین شد.

به گفته یما یاری، وزیر ترانسپورت (حمل و نقل) افغانستان این قطار شامل ۴۱ واگون است و یکهزار و یکصد تن بار دارد. بیشتر بار این قطار سنگ تالک است که برای تولید پودر بچه استفاده می‌شود، علاوه بر آن سنگ مرمر و رُخام نیز از اقلام دیگر بار قطار است.

این قطار با عبور از کشورهای ازبکستان و قزاقستان به چین خواهد رسید که رسماً افغانستان به کشورهای جنوب آسیا وصل می‌شود.

افغانستان تاکنون برای صادراتش به چین به دهلیزهای هوایی وابسته بود، اما خان ولی خان بشرمل، معاون نهاد ریاست جمهوری افغانستان می گوید که صادرات از مسیر خط آهن برای افغانستان به مراتب از دهلیز هوایی ارزانتر خواهد شد.

او گفت که هزینه ۲۲ تن جلغوزه از طریق دهلیز هوایی برای افغانستان ۷۳ هزار دالر است، در حالیکه هزینه ۳۶ تن جلغوزه از مرز زمینی به چین چهار هزار دالر می‌شود.

خیرالدین مایل، از تاجران افغان ابراز امیدواری می کند که آغاز صادرات اموال افغانستان از طریق خط آهن به صدور تولیدات متنوع افغانستان به جنوب آسیا منجر شود.

**نخستین قطار** چینی در تاریخ ۱۷ سنبله سال ۱۳۹۵ کالاهای تجاری چین را بعد از ۱۲ روز به بندر حیرتان در شمال افغانستان رساند. این قطار و سایر قطارهایی که از طریق آن کالاهای تجاری چین به افغانستان وارد می‌شود، بعد از تخلیه بار با واگون‌های خالی به چین بازمی گشتند. اولین بار است که افغانستان تصمیم گرفته تا از این طریق نیز صادراتی داشته باشد.

اتاق تجارت و صنایع بلخ می گوید تاکنون بیش از چهار هزار واگون اموال چینی از طریق خط آهن به بندر حیرتان رسیده، اما این نخستین بار است که جانب افغانستان هم کالاهای تجارتی را از طریق خط آهن به چین صادر می کند.

دلیل اینکه افغانستان تاکنون قادر به صادرات کالا از این مسیر نشده، نبود دستگاه‌های پیشرفته اسکن و مشکلات گمرکی در ازبکستان عنوان شده بود.

براساس اطلاعات اتاق تجارت افغانستان؛ چین از بزرگترین شرکای تجارتی افغانستان است و در سال گذشته کالاهایی به ارزش بیش از یک میلیارد و ۳۰۰ میلیون دالر به افغانستان صادر کرده است.

افغانستان نیز در سال گذشته میلادی از طریق دهلیز هوایی، بیش از یکهزار و سه صد تن جلغوزه به چین صادر کرد که ارزش آن ۴۵ میلیون دالر اعلام شد.

به اضافه این، چین یکی از بازارهای عمده زعفران افغانستان نیز به حساب می‌آید.

«

مقام‌های افغان انتظار دارند که با آغاز صادرات از طریق خط آهن حجم صادرات افغانستان به چین سالانه تا ۶۰ میلیون دالر افزایش یابد.

براساس گزارش مرکز آمار افغانستان ارزش کُل واردات افغانستان ۷.۴ میلیارد دالر و صادرات آن فقط ۸۷۵ میلیون دلار است.

**په لويه پکتيا کې د لومړي ځل لپاره د «جغرافيايي نښانو» سيستم جوړيږي**

ټاکل شوې چې د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د جغرافيايي نښانو «GI» سيستم جوړ او د افغانستان د ترټولو عمده کرنيزو توکو له ډلې زعفران، د کندهار انار او د جلغوزيو ځانګړتياوې په کې ثبت شي.

جغرافيايي نښې د صادراتي توکو هغه نښې دي، چې د دغو توکو جغرافيايي مبدا ټاکي او مشخصې ځانګړتياوې لري. په دې سيستم کې د يوې ځانګړې جغرافيايي سيمې د يو کرنيز او صنعتي محصول ټول ځانګړتياوې ثبتيږي.

په همدې موخه د لوی پکتيا «خوست، پکتيا او پکتيکا» ولايتونو د جلغوزيو لپاره د نړيوال باوري سند جوړولو په موخه د يادو ولايتونو د کرنې رييسانو او د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان «FAO»تر منځ مشورتي غونډه وشوه.

دا سيستم د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له خوا د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان «FAO» په همکارۍ او په کابل کې د اروپايي ټولنې د استازولی د دفتر او «GIZ» په مالي ملاتړ جوړيږي.

د دې سيستم د جوړولو هوکړه ليک د غويي په ۱۹ مه نېټه دکرنې وزير او په کابل کې د ملګروملتونو د خوړو او کرنې سازمان مشر راجندرا ترمنځ لاسليک شوی وه.

ياد سيستم په دريو پړاوونو کې چې په کې د قوانينو او ځانګړو تقنيني سندونو تدوين، د محصولاتو ثبت او د دې سيستم ملاتړ او خوندي کول شامل دي پلی کيږي.

د دې سيستم په جوړېدو سره د يادو ولايتونو جلغوزي د همدې سيمو په خپل نوم ثبتيږي او دا چاره د دې لامل کېږي چې نور هېوادونه و نه شي کړای د افغانستان محصولات په خپل نوم ثبت او صادر کړي.

په ورته وخت کې د جی آی سيستم مونږ ته دا ګټه هم رسوي چې خپل محصولات کابو په ۳۰ سلنه لوړه بيه خرڅ کړو. هيڅ ډول سرټفکېټ ته اړتيا نشته او په مستقيمه توګه اروپايي مارکېټونو ته لاسرسی پيدا کيږي.

د «جی آی» په سيستم کې د ځانګړو کرنيزو او صنعتي توکو واردول په نړيوالو مارکېټونو کې د دغو محصولاتو ارزښت لوړوي او ترڅنګ يې د افغانستان کرنيزو او صنعتي توکو ته هويت ورکوی.

---

سرچينې:

۱- https://www.bbc.com/persian/business-49619375، تاریخ: ۱۶ سنبله ۱۳۹۸

۲- د کرنې اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت ، د خپرېدو نېټه: سه‌شنبه۱۳۹۸/۶/۲۶ – ،

https://mail.gov.af/ps/په-لويې-پکتيا-کې-د-لومړي-ځل-لپاره-د-«جغرافيايي-نښانو»-سيستم-جوړيږي

# اِی تی اِم (ATM)

اِی تی اِم یا ماشین خود کار صرافی دستگاهی الکترونیکی است که به مشتریان بانک ها این امکان را میدهد تا در هر زمان و در مکان های مشخص به وسیله قراردادن کارت خاص اِی تی اِم در دستگاه و وارد کردن پاسورد از حساب خود پول دریافت نمایند.

این خدمات را اکثریت بانک های تجارتی افغانستان در نمایندگی های خود و در بعضی از فروشگاه ها جهت سهولت برای مردم عزیز ما دارند که بطور ۲٤ ساعته فعال می باشند.





# تر راتلونکو شپږو کلونو پورې د بڼوالۍ وده

## په یو میلیون جریبه ځمکه نوي سوداګریز بڼونه جوړیږي.

افغانستان د هغو هیوادونو له ډلې څخه شمېرل کیږي چې ډېر شمېر وګړي یې په بزګرۍ او بڼوالۍ بوخت دي او له دې لارې خپلې اقتصادي چارې پر مخ وړي.

د معلوماتو پر بنسټ، تر کورنیو جګړو وړاندې د هېواد په څه باندې (۱۱۲۳) زره جریبه کرنیزه ځمکه مېوه لرونکې ونې کرل شوې وې چې په کور دننه د مصرفېدونکو مېوو زیاته برخه یې جوړه کړې وه او په دې برخه کې یې بهرنیو هېوادونو ته هم صادرات درلودل، خو په هېواد کې جګړو، نامناسب اقتصادي وضعیت او وچکالیو په راتګ سره د دې ونو زیاته برخه له منځه لاړه او دې چارې د افغانستان اقتصاد ته ډېر زیانونه ورسول.

که څه هم له هغې وروسته په هېواد کې د لنډ مهاله حکومت په راتګ سره یو ځل بیا د دې اقتصادي ارزښت د رغونې هڅې پیل شوې او په دې برخه کې یو شمېر پرمختګونه رامنځته شول، خو اوس په پام کې ده چې تر راتلونکو شپږو کلونو به د ټول هېواد په کچه په نږدې یو میلیون جریبه ځمکه مډرن او عصري سوداګریز بڼونه جوړ شي.

معلومات ښیي چې په دې بڼونو کې د انارو، انځیرو، زردالو، شفتالو او یو شمېر نورو ارزښت لرونکو مېوو بڼونه شامل دي. تمه ده چې د دې سوداګریزو بڼونو په جوړېدو سره به افغانستان د مېوې په برخه کې په ستر تولیدوونکي هېواد بدل شي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان مېوې د غوره کیفیت لرونکو مېوو له ډلې شمېرل کیږي چې د همدې ښه کیفیت له کبله یې په نړیوالو بازارونو کې ښه نوم ګټلی او په کلني ډول له دې لارې افغان بزګران زیات عواید تر لاسه کوي.

بلخوا که څه هم افغانستان زیاتې او کیفیت لرونکې مېوې لري، خو لا هم دې هېواد ته له بېلابېلو هېوادونو میوې راوړل کیږي او له دې لارې زیات اسعار له افغانستان څخه بهر ته ځي.

تمه ده چې د بڼوالۍ په برخه کې پانګه اچونه او په دې برخه کې د مډرنو او عصري سیستمونو څخه ګټه اخیستل به د افغانستان څخه د مېوو

»

په پار د تلونکو اسعارو په مخنیوي کې مرسته وکړي او له دې هیواد څخه نوور هیوادونو ته به د میوې په صادراتو کې زیاتوالی راولي.

د یادونې وړ ده چې د بڼوالی د عصري او مډرنو سیستیمونو سره د نـویـو بڼونو جوړول د حاصلاتو په زیاتوالي او د میوو د کیفیت په لوړوالي کې د لیدنې وړ پرمختګونه رامنځته کوي، څېړنو ښودلې چې د بڼوالی له نـویـو سیستیمونو څخه ګټه پورته کول، د حاصلاتو کچه تر لس برابره زیاتوي چې دې چارې د عوایدو د زیاتوالي لپاره د بزګرانو هیلې زیاتې کړې دي.

په همدې حال کې معلومات ښیي چې سږکال د بڼونو د حاصلاتو په کچه کې د تېر کال په پرتله نږدې ۳۰ سلنه زیاتوالی راغلی او تمه ده چې په دې برخه کې د عصري سیستمونو په رامنځته کېدو سره به د بڼونو په حاصلاتو کې د لیدنې وړ زیاتوالی راشي.

باید وویل شي چې په دې وروستیو کلونو کې د افغان دولت له لـوري د کرنې او بڼوالی برخې ته پاملرنه د دې لامل شوې ده چې په دې برخه کې د پخوا په پرتله زیات پرمختګونه رامنځته شي.

معلومات ښیي چې په تېرو دریو کلونو کې په کندهار ولایت کې د همکارو موسسو او خلکو په همکارۍ په څه باندې دوه زره جریبه ځمکه د پستې بڼونه جوړ شوي دي چې ډېره ښه پایله یې ور کړې ده. تـمـه ده چې په راتلونکو څو کلونو کې به د انارو، انګورو او انځیرو ترڅنګ پسته هم د دې ولایت د صادراتو په لیست کې شامله شي.

په کندهار کې د پستې دوه زره جریبه نوي بڼونه په داسې حال کې جوړ شوي چې یاد ولایت د تازه میوو له پلې انګور او انارو په برخه کې مخکښ ولایت شمېرل کېږي او د یادو میوو زیاته برخه یې د هـوایـي دهلېزونو او ځمکنیو لارو بهرنیو هیوادونو ته صادرېږي.

په دې ولایت کې د پستې د بڼونو ښې پایلې به نور کـرونـدګـر هـم وهڅوي چې په خپلو ځمکو کې یاد بوټي وکري او له دې لارې بـه د پخوا په پرتله زیاته ګټه تر لاسه کړي.

په ورته وخت کې د هلمند په ولایت کې هم په دې بـرخـه کـې د اصلاحاتو په راتګ سره د انارو او یو شمېر نورو میوو په حاصلاتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

په هلمند ولایت کې په ۱۱۶۵ هکتاره ځمکه د انارو باغونه جوړ شوي چې هر هکتار یې په کلنې ډول ۲۱ ټنه حاصل ورکوي او داسې هڅې رواني دي چې د یاد ولایت په نورو برخو کې به هم ورته بڼونه رامنځته شي.

که څه هم د هلمند میوې په ټول هیواد کې شتون لري، خو تمه ده چې په دې ولایت کې د بڼوالی په اصلاح سره به د دې ولایت د میـوو صادرات تر نړیوالو بازارونو لار وموموي او د دې ولایت د بـزګـرانـو پـه اقتصادي وضعیت کې به د لیدنې وړ بدلون رامنځته شي.

په هلمند ولایت کې د خصوصي سکټور پرمټ د انارو پـر ۱۷ ډولـونـو څېړنې تر سره شوې چې لومړنۍ پایلې یې مثبتې ارزول شوې دي. د انارو دغه ډولونه په لنډ وخت کې مېوه نیسي، ونې یې ټیټې او د ښه کمیت او کیفیت لرونکې دي.

په پام کې ده چې سږکال د دولت له لوري د دې ولایت بـڼـوالـو او ځمکو خاوندانو ته له ۳ تر ۵ سوه جریبه د انارو نوي بڼونه جوړ شي چې ثمر ته په رسېدو سره به یې په حاصلاتو کې د لیدنـې وړ زیـاتـوالـی رامنځته شي.

بڼوالي چې د کرنې زړه بلل کېږي او د هېوادونو په اقتصاد کې ستر رول لوبوي، په دې برخه کې پانګه اچونه هېواد په نورو پورې لـه تـړلـتـیـا خلاصولی شي او په دې پار بهرنیو هیوادونو ته له تلونکو اسعارو مخنیـوی کېدای شي. •

حسیب الله نوری

**سرچینې:**


۱ – د کرنې او مالدارۍ وزارت/ د کرنې وزارت: تر راتلونکو شپږو کلونو پورې یو میلیـون جـریـبـه عصري بڼونه جوړوو، د خپرېدو نېټه: یکشنبه ۱۳۹۸/۵/۲۷ – ۱۰:۲۸

https://mail.gov.af/ps/د-کرنې-وزارت-تر-راتلونکو-شپږو-کلونو-پورې-یو-میلیون-جریبه-عصري-بڼونه-جوړوو

۲ – د کرنې او مالدارۍ وزارت/ د هلمند د انارو سږنۍ حاصلات ۲۴ زره او ۴۶۶۵ ټنو ته رسیږي

د خپرېدو نېټه: پنجشنبه ۱۳۹۸/۵/۱۷ – ۸:۲۶

https://mail.gov.af/ps/د-هلمند-د-انارو-سږنۍ-حاصلات-۲۴-زره-او-۴۶۶۵-ټنو-ته-رسیږي

۳ –د کرنې او مالدارۍ وزارت/ کندهار کې د پستې څه باندې دوه زره جریبه بڼونه جوړ شوي دي

د خپرېدو نېټه: پنجشنبه ۱۳۹۸/۵/۱۷ – ۶:۴۲

https://mail.gov.af/ps/کندهار-کې-د-پستې-څه-باندې-دوه-زره-جریبه-بـڼـونـه-جـوړ-شوي-دي

۴ –د بڼوالی ارزښت/ باغداری دیروز وامروز درافغانستان

لیکوال: فرهاد احمدیار، د خپرېدو نېټه: ۱۳۸۸ کال

http://farhadahmadyar.blogfa.com/post/14/بـاغـداری-دیـروز-وامـروز-درافغانستان-

# د یو هېواد په اقتصادي وضعیت کې د بې روزګارۍ اغېزې



تاج محمد تمکین
د افغانستان بانک د ختیځ زون اقتصاد پوه

بې روزګاري د هېوادونو د ملي عاید کچه ټیټوي، له تولیدي سرچینو د ګټې اخیستنه کموي، اقتصادي سرچینې بې ګټې ساتې او دا چاره هېوادونه له ستونزو سره لاس او ګرېوان کوي.

په همدې ډول بې روزګاري د بشري سرچینو د ضایع کېدو په معنی ده او کولای شي مخ پر ودې هېوادونه له لویو ستونزو سره مخ کړي.په نړیواله کچه د بېکارۍ په اړه بېلابېل نظرونه موجود دي، کلاسیکو علماوو د عرضې او تقاضا د جزوي تعادل د تحلیل له مخې بې روزګاري تعریف کړې ده.

د دې علماوو له نظره بې روزګاري هغه وخت رامنځته کېږي چې د کارګرو د معاش کچه د معاش د توازن له سطحې څخه لوړه وي او ددې تر څنګ د عرضه شوو کارګرو شمېر دهغې له غوښتنې څخه زیات وي، چې د عرضې او تقاضا تر منځ توپیر د بېکارۍ لامل کېږي.

کینز او د هغې پیراوان بیا دکلاسیکو علماوو دغه نظر ردوي او دا له حقیقت څخه لرې بولي.دوی وایي، په اقتصاد کې بې روزګاري هغه وخت رامنځته کېږي چې د کارګرانو د عرضې منحنې د هغې د تقاضا منحنې د کامل استخدام له سطحې څخه په ټېټه نقطه کې قطع کړي.

د کینز په بارو د دې لپاره چې په هېوادونو کې بې روزګاري له منځه لاړه شي په کار ده چې د دولت له لوري په بېلابېلو پروژو کې پانګه اچونه ترسره شي، ترڅو یادې ستونزې ته د پای ټکی کېښودل شي.

بې روزګاري چې دیو هېواد داقتصادي پرمختګ د اټکل لپاره بنسټیز معیار ګڼل کېږي له مخې یې کولای شو چې دیو هېواد اقتصادي پرمختګ دبل هېواد سره پرتله کړو.

څرنګه چې بې روزګاري د بېلابېلو عواملو په پایله کې رامنځته کېږي د دې عواملو له مخې بې روزګاري په بېلابېلو ډولونو باندې وېشل شوې ده.

عمومي ډول بې روزګاري په دوه ډوله وېشل کېږي:

**اختیاري بې روزګاري**

دا ګروپ د هغو اشخاصو څخه جوړ دی چې د یو ځانګړي کار لپاره استخدام شوي وي یا وکولای شي چې استخدام شي، خو هغوی یادې دندې نه قبولوي او د هغه په بدل کې هغه عوایدو باندې ژوند تېروي چې له کومې بلې لارې یا مدرک څخه یې لاسته راوړي. د بېلګې په توګه شهزاده ګان، قاچاقبران، د باڼډونو رهبران، فیوډالان او داسې نور...

**غیر اختیاري بې روزګاري**

غیر اختیاري بې روزګاري یوه ستره ستونزه ده چې د اقتصاد پوهانو پاملرنه یې ځانته اړولې ده. په دې ګروپ کې هغه کسان شاملېږي چې ځانګړې مهارت ولري او د کار د پیدا کېدو غوښتونکي وي، خو موجوده شرایطو کې کار نه شي پیدا کولای او یا هم که کوم ځانګړې مهارت هم و نلري د غیرمسلکي کارګر په توګه استخدام ته مایل وي.

دا ډول بې روزګاري په پرمختللو هېوادونو کې پیدا کېږي چې زیاته برخه یې په مخ پر ودې هېوادونو او ښارونو کې لیدل کېږي.

**غیر اختیاري بې روزګاري بیا په څلور ډوله ویشل شویده.**

**موسمي بې روزګاري** :

دا د بې روزګارۍ هغه ډول دی چې د موسمي صنعتونو له امله رامنځته کېږي، د بېلګې په توګه کرکیله د ودانیو رغونه او نور هغه صنعتونه چې خام مواد یې د یو فصل یا موسم پورې اړه ولري، د نوموړي موسم په پای ته رسېدو سره د یادو صنعتونو لپاره خام مواد نه پیدا کېږي او په یاد صنعت کې بوخت کسان بې روزګاره پاتې کېږي چې په دې وخت کې منځته راغلې

بېکارۍ ته موسمي بېکاري ویل کېږي.

**مسلکي بې روزګاري :**

فني بې روزګارۍ نه مطلب هغه بېکاري ده چې په یو هېواد کې د تولید لپاره د نوو لارو چارو او د ماشینونو دکارولو له امله رامنځته کېږي. د بېلګې په توګه د کمپیوټر کارونه، له عصري وسایلو په چارو کې ګټه اخېستنه او کرنې میکانیزه وسایل چې په دې سره یو ډول بېکاري رامنځته کېږي او چارې د وسایلو په وسیله تر سره کېږي.

**پټه بې روزګاري :**

هغه ډول بې روزګاري ده چې کرکیله او یا نورو برخو کې د زیات شمېر کارګرانو د بوختیا له امله چې د تولید د کچې د زیاتوالي لامل هم نه کېږي رامنځته کېږي.

لکه څرنګه چې په لږ مخ پر ودې هېوادونو کې د وګړو نږدې ۷۰٪ د کرنې په سکټور کې په دندو بوخت دي او په یاده برخه کې ډېرى داسې کسان هم مصروف دي چې له دې سکټور څخه په وتلو سره یې هم په کرنیزو تولیداتو کې کوم کموالی نه رامنځته کېږي.

**دوراني بې روزګاري :**

هغه ډول بې روزګاري ده چې د کارګرو لپاره په غوښتنو کې د زیاتوالي او کموالي له امله رامنځته کېږي. یعني په مخ پر ودې هېوادونو کې ځیني وختونه د کارګرانو لپاره غوښتنې کمېږي او ځیني وخت په کې زیاتوالی راځي چې دې بېکارۍ ته دوراني بې روزګاري وایي.

کم کاري چې هغې ته داستخدام لاندې حالت (under employment) وایي، ځیني وګړي نشي کولای چې بې دندې ژوند وکړي. ځکه هغوی ته کورني مسئولیتونه ترغاړه وي، هغوی باید یوه دنده ولري، ترڅو عاید د لارې خپل ژوند تېر کړي. دغه دنده کېدای شي له وخته وروسته دنده وي یا داسې دنده وي چې ډېر لږ معاش ولري، همدغه لږ معاش چې یوازې هغوی پرې ژوندي پاتې کېدای شي، هغوی د بې روزګارانو له ډلې څخه وباسي او دې ډول وګړو ته وایي.

دا کارګره قوه را ښیي چې دکارګرولو سرچینې په یو اقتصاد کې په بشپړ ډول په کار نه دي لویدلې چې دا هم د هېواد لپاره د بېکارۍ یوه ستونزه ده، که څه هم یاد وګړي په رسمي ډول د بې روزګارانو څخه نه ګڼل کېږي.

بې روزګاري د یو هېواد په اقتصادي وضعیت ډېر لوی اغېز لري او دا چاره د هېواد د پرمختګ د مخنیوي لامل کېږي، د وګړو ژوند له ننګونو سره مخ کوي او په ملي اقتصاد کې د ستر ملي بحران د رامنځته کېدو لپاره لاره هواروي له دې سره عاید ټیټېږي، سپما کمېږي او په پانګه اچونه کې کموالی راځي.

همدا ډول د بې روزګارۍ له امله ټولنه د فقر سره لاس او ګریوان کېږي او په ټولنه کې ګڼ شمېر ټولنیز مسایل لکه غلاوې، د خلکو څخه په جبر شتمنۍ اخستنې او بې عدالتۍ رامنځته کېږي.

بلاخره بې روزګاري د دې لامل کېږي چې د یو هېواد د سیاسي او اقتصادي ثبات د ګډوډۍ لپاره لاره هواره شي.

بلخوا د دندو په پیدا کېدو سره د خلکو ژوند ښه کېږي او ورسره یې نورو اقتصادي سکتورونو باندې هم مثبت اغېز کوي.

د کار پیدا کېدو سره خلک د عاید څخه برخمن کېږي او د عاید د لاسته راوړلو وروسته یوه برخه لګول کېږي او بله برخه یې د سپما یا پانګې اچونې په برخه کې په کار اچول کېږي چې دا چار د دندو پیدا کېدو ته لاره هواروي.

د یادونې وړ ده چې د دندو د زیاتوالي سره د تقاضا د اړخ په شمول د عرضې طرف هم ښه کېږي او د زیاتو کارګرانو له برکته د کارخونو تولیدي وړتیاوې زیاتېږي او تردې چې د هېواد د په ځان بسیاینې لامل کېږي او د هېواد صادراتي کېدو ته لاره پرانیزي.

په هغو هېوادونو کې چې هلته د استخدام کچه زیاته وي هلته د تولیداتو او ملي عوایدو کچه لوړه وي، د هېوادونو په وده کې پرمختګ راځي او په دې سره اقتصادي پرمختګونه رامنځته کېږي او د خلکو په ژوند مثبت اغېز کوي.

**سرچینې:**


1. https://www.thebalance.com/what-is-unemployment-3306222
2. https://www.managementstudyguide.com/what-is-unemployment.htm
3. https://www.thebalance.com/types-of-unemployment-3305522
4. http://www.economicsdiscussion.net/articles/bad-effects-of-unemployment-on-economic-growth/2285
5. https://www.cnbc.com/id/44451664

# د شنو خونو د پراختیا لپاره هڅې او هاند

**په تېرو دوو کلونو کې د نږدې یو میلیارد افغانیو په ارزښت شنې خونې جوړې شوې دي.**

شنې خونې د نباتاتو د کرکیلې هغه ځایونه دي چې په رڼه پلاستیک یا شیشې سره پوښل شوي او خپل منځ کې لمرینه انرژي زیرمه کوي چې نباتات له زیاتې ګرمۍ او یخنۍ څخه ساتي.

افغانستان چې یو کرنیز هېواد بلل کېږي، ډېری خلک یې په کرنه بوخت دي، خو په ډېری سیمو په ځانګړي ډول سړو سیمو کې یې ځمکه یوازې یو ځل حاصل ورکوي او د دویم حاصل پر وخت هوا سړېږي او دا چاره د کرکیلې د مخنیوي لامل کېږي چې له همدې کبله اوس مهال ډېری بزګرانو شنو خونو ته مخه کړې ده.

دې نوبښت د افغانستان په بېلا بېلو ولایتونو کې ښه پایله لرلې ده او ډېری کرنیز تولیدات له همدې خونو تر بازارونو رسېږي او د هېواد د کرنیزو محصولاتو په ځانګړې توګه سابو د اړتیاوو زیاته برخه یې پوره کړې ده.

د معلوماتو له مخې په تېرو دوو کلونو کې د ټول هېواد په کچه د اقتصادي ځان بسیاینې په پار ۷۴۰۰ شنې خونې جوړې شوې دي چې نږدې یو میلیارد افغانۍ لګښت پرې راغلی دی او د دې خونو په وسیله زیات شمېر کسانو ته د دندو زمینې برابرې شوې دي.

د دې خونو له جوړولو هدف په ځان بسیاینه په کور دننه د باکیفیته سابو چمتو کول او د بزګرانو په ژوند کې د مثبت بدلون راتګ ګڼل کېږي.

شنې خونې د غوره اقتصادي ارزښت لرونکې دي او په دې برخه کې پانګه اچونه هېواد د په ځان بسیاینې او اقتصادي پرمختګ په لور بیایي.

د څېړنو له مخې، د شنو خونو ځمکې د آزادې هوا ځمکو په پرتله په کلنې ډول ۱۵ ځله زیات حاصل ورکوي چې دا چاره کولای شي د بزګرانو په ژوند کې مثبت بدلون رامنځته کړي.

که څه هم افغانستان د هغو هېوادونو له ډلې دی چې په ډېرئ برخو کې یې لا هم په سنتي ډول کرکیله کېږي او بزګران یې له دې لارې په کلنې ډول کم عاید تر لاسه کوي، خو په دې وروستیو کې د کرنې په برخه کې د اصلاحاتو په راتګ او د شنوخونو له دود کېدو سره هیلې زیاتې شوې دي چې د بزګرانو په ژوند کې مثبت بدلون راشي.

څېړنې ښیي چې شنې خونې د آزادې هوا ځمکو په پرتله په ډېرو کمو اوبو سره خړوبېدای شي او تر ډېره د همدې کمو اوبو په وسیله په یادو خونو کې رطوبت ساتل کېږي او همدا رطوبت د دې لامل کېږي، څو د دې خونو په حاصلاتو کې زیاتوالی راشي او بزګران د پخوا په پرتله له کمې ځمکې ډېر عاید تر لاسه کړي.

دا مهال د هېواد په ډېری سیمو کې بزګران په کلنې ډول یوازې یو محصول تر لاسه کوي او د موسمونو د ادلون بدلون له کبله د دویم محصول د ترلاسه کولو زمینه نه ده برابره.

»

یادې ستونزې ته په کټلو سره ویلای شو چې په کور دننه په شنو خونو پانګه اچونه د بزګرانو لپاره ګټوره ثابتېدای شي او له دې لارې دوی کولای شي چې په کلنۍ ډول ځو محصولات او زیاته ګټه تر لاسه کړي.

په همدې ډول هغه کرنیز توکي چې په شنو خونو کې کرل کېږي، د محصولاتو کیفیت یې لوړ او د ناروغیو په مقابل کې مقاوم دي. په شنو خونو کې د طبعي آفتونو مخنیوی په آسانۍ سره کېدای شي او ناروغۍ نه شي کولای چې د دې خونو دننه بوټي اغېزمن کړي.

د یادونې وړ ده چې د شنو خونو په وسیله کېدای شي په هغه ځمکو کې هم کرکیله وشي چې له هغې ځخه په آزاده هوا کې د کرکیلې لپاره ګټه نه شي اخیستل کېدای.

دا ځانګړنه بزګرانو ته د دې وړتیا ورکوي چې د دې خونو دننه هغه څه کښت کړي چې له نورو هېوادونو واردېږي او دا چاره کولای شي بهرنیو هېوادونو ته د هغو اسعارو مخنیوی وکړي کوم چې د دې کرنیزو توکو د وارداتو لپاره ځي.

باید وویل شي چې د شنو خونو په کرکیله د موسمونو تغییر اغېزه نه لري، یعنې په ټولو موسمونو کې د دې خونو هوا د کرکیلې لپاره برابره ده او د دې اړتیا نه شته چې له یو فصل څخه تر بل فصل پورې د محصولاتو د کرکیلې لپاره انتظار وشي، بلکې د دې خونو په شتون سره بزګران کولای شي هر وخت د خپلې خوښې وړ محصولات تر لاسه کړي او بازارونو ته یې د ګټې لپاره وړاندې کړي.

د یادونې وړ ده چې د شنو خونو د پورته ذکر شویو ګټو سربېره، خلکو ته د کار زمینې برابرېږي او د دوی په اقتصادي وضعیت کې مثبت بدلون ته لاره هوارېږي.

په شنو خونو کې د نارینه بزګرانو سربېره ښځینه بزګرانې هم کار کولای شي او په دې وسیله د دې زمینه برابرېږي چې ښځې هم د کورنیو په اقتصادي چارو کې له نارینه وو سره یو ځای رغنده او اغېزمن رول ولوبوي.

که څه هم په هېواد کې د شنوخونو پراختیا له ځان سره ښه زیري لري او د ډېرو اقتصادي ارزښتونو لرونکې دي، خو په هېواد کې د شنوخونو د تولیداتو لپاره د سړونو خونو نه شتون د دې لامل کېږي چې د کرنیزو توکو د تولید په مهال د بزګرانو محصولات په ډېره ټیټه بیه وپلورل شي او یا هم له منځه لاړ شي. د دې لپاره چې په کور دننه د کرنیزو محصولاتو لپاره غوره بازار موندل شوی وي، د شنو خونو سربېره د کرنیزو محصولاتو د ساتنې لپاره د سړو خونو شتون اړین بلل کېږي چې په دې برخه کې پانګه اچونه به له ځان سره لویې لاسته راوړنې ولري.

پاتې د نه وي چې د سړوخونو په برخه کې پانګه اچونه د دې لپاره زمینه برابروي، چې افغانستان په هر فصل کې خپل کرنیز توکي ولري او د اړتیا په مهال یې بازارونو ته وړاندې کړي.

همدارنګه د دې خونو په رامنځته کېدو سره بزګران د کال په هر موسم کې د خپلو کرنیزو محصولاتو له پلور زیاته ګټه ترلاسه کولای شي چې دا چاره نېغ په نېغه د هېواد او هېوادوالو په اقتصادي وضعیت کې د مثبت بدلون لامل کېږي.

**سرچینې:**


۱ –شنې خونې که کرنیز انقلاب/ حبیب وقار

د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۶ د وږې ۱۳ مه

https://tkg.af/pashto/2017/09/04/شنې-خونې-که-کرنیز-انقلاب/

۲ – ویکیپدیا/ ګلخانه

https://fa.wikipedia.org/wiki/گلخانه

۳ – شنې خونې خوست د سبو له پلوه ځان بسیا کوي/ احمدشاه

د خپرېدو نېټه: 21 چنګاښ 1396



# اقتصاد زراعتی

در شرایط کنونی در حدود بیش از یک میلیارد و دوصد نفر از جمعیت هفت میلیاردی کره زمین از گرسنگی رنج می برند که بیشتر این افراد ساکن کشورهای جهان سوم هستند. کشورهای جهان سوم صنعت پیشرفته نداشته و نا گزیر به بخش زراعتی بیشتر توجه می کنند تا غذای مورد نیاز خود را از همین راه به دست بیاورند.

اهمیت تولیدات زراعتی در مصئونیت غذایی جامعه از حدود یک صد سال به این طرف مطرح بوده و امروز با سیر تکاملی اش به یک دانش منسجم مبدل شده است. در عصر کنونی متخصصین اقتصاد زراعتی می خواهند که قوانین کلان اقتصادی را در بخش زراعتی پیاده کنند تا بتوانند از امکانات و منابع موجود بهترین استفاده را کرده و بیشترین سود را به دست آورند. یا به عبارت دیگر مسائل اقتصادی را در بخش زراعت طوری اعمال کنند تا با استفاده از منابع موجود اعم از زمین، آب، کود، بذر، نیروی انسانی و سرمایه گذاری حداکثر منفعت را به دست آورند.

محصولات زراعتی به دلیل این که بسیاری از موارد پیوستگی با متغییرهای مثل آب و هوا و خاک بر آن اثر می گذارد به مطالعه تخصصی ویژه نیازمند اند. یعنی کارشناسان و متخصصین این بخش باید علاوه بر آشنایی با مسائل زراعتی از قبیل اصول زراعت و بازارهای محصولات زراعتی باید با اصول و مبانی علم اقتصاد مثل اقتصاد خُرد و کلان نیز آشنا باشند.

بخش اقتصاد زراعتی رشته ایست که کارشناسان آن تلاش می کنند تا از یک سو فعالیت زارعین و مدیران بخش های زراعتی را بهتر سازند و از سوی دیگر در بهبود برنامه ریزی سیاستمداران و مدیران دولتی در بخش زراعت نقش داشته باشند.

افغانستان با داشتن اراضی زیاد و آب و هوای مناسب ظرفیت بسیار خوبی برای زراعت دارد که این امر می تواند در توسعۀ اقتصادی افغانستان را کمک نماید.

در بخش زراعت باید از پوتنسیل ها و ظرفیت های جدید استفاده اعظمی صورت گرفته و در این برنامه باید رفاه روستائیان در نظر گرفته شود، زیرا رفاه روستائیان اقتصاد ملی را تقویت می نماید. برای رسیدن به این هدف باید از الگو های مانند کشت بهتر، افزایش بهره وری، افزایش سرمایه گذاری، اصلاح و ساختار بازار و مصئونیت غذایی در روستا ها استفاده نمود.

در افغانستان بیشتر فعالیت های زراعتی وابسته به شرایط اقلیمی است و به نحوی هر محصول کشور در شرایط خاص محیطی از نتیجۀ خاصی برخوردار است. در صورتیکه الگوی کشت بر اساس شرایط محیطی همنوا گردد، اقتصاد کشور از مزیت های خوبی

مانند رشد پایدار برخوردار خواهد شد.

شرایط محیطی مانند حرارت، رطوبت، بارندگی، ذخایر آب، بافت خاک، موجودیت تکنالوژی زراعتی، موجودیت بازارها، و همچنان بالا رفتن مصارف تولید و ضایعات از پی آمد های بهره وری پائین در بخش زراعت است. جهت بهره وری نیروی کار بخش زراعت لازم است، حلقه های آموزش، تحقیق و ترویج فعال گردد.

تولید کننده‌گان و کارگران بخش تولید محصولات زراعتی بیشتر افراد کم تحصیل با سن زیاد می باشند، آنها بیشتر به زراعت سنتی علاقمند هستند. در چنین شرایط نمی توان دستاوردهای ترویج، تحقیق و آموزش را در کوتاه مدت مشاهده نمود که باید این شیوه تغییر نماید.

برای بالابردن بازدهی عوامل تولید، لازم است تا سرمایه گذاری جدید در بخش‌های نیروی انسانی و دانش جدید تکنالوژی در موارد مختلف زراعت افزایش یابد. زارعین نیازمند خرید تکنالوژی جدید هستند که بنابر نا مناسب بودن اقتصاد شان نمی توانند تا وسایل مُدرن زراعتی را خریداری و حین کار و بار شان از آن استفاده نمایند. این موضوع به توجه بیشتر نیاز دارد تا مسئولین زراعت و در کنار آن تشکل شرکت های سهامی در رفع آن بپردازند.

یکی از عوامل بخش مهم اقتصاد، سرمایه گذاری به بخش های مختلف زراعتی است. افزایش سرمایه گذاری در این بخش، علاوه بر افزایش در تولید و درآمد دهاقین، موجب ایجاد شغل، بهبود بهره وری عوامل سایر بخش های تولید و در کُل سبب می شود تا سهم این سکتور در تولید ناخالص داخلی و اقتصاد کشور بیشتر گردد. •

منابع:


1-إسهام النمو **الزراعی فی** الحد **من** الفقر والجوع وسوء التغ - FAO - www.fao.org/3/i3027a/i3027a04.pdf

دور النمو **الزراعی فی** تحقیق النمو **الاقتصادی** والحد **من** الفقر والجوع. الرسالة الرئیسیة. النمو **الزراعی** فعال بصورة خاصة **فی** الحد **من** الفقر وسوء التغذیة .یعتمد معظم مدقعی الفقر **علی الزراعة** وما یتصل بها **من** أنشطة.

2--**Agree Cultur** Superwizer - ED-ARCHMAT

compawardcu.dnsfailover.net/**agree-cultur**-superwizer.pdf

**Agree Cultur** Superwizer. Ebook **Agree Cultur** Superwizer currently available at compawardcu.dnsfailover.net for review. only, if you need complete ebook **Agree** ..

3 - ظرفیت های بالقوه سکتور **زراعت** میتواند در رُشد **اقتصاد افغانستان** مُمِد...

*https://www.worldbank.org/.../**afghanistan**/.../unlocking-potential-of-**agriculture**-for-**afghanistan**-growth*

سکتور **زراعت** در **افغانستان** به گونه سنتی یکی از شاخص های بالقوة **اقتصادی**

# په اقتصادي ودې د کرنیز سکټور اغېزې

د معلوماتو او شمېرو له مخې د کلیوالو سیمو شاوخوا ۸۵ سلنه وګړي په کرنه او مالدارۍ بوخت دي چې د ټول هېواد په اقتصادي وده کې خورا مهم رول لوبوي.
په دې وروستیو کلونو کې کرنه او مالداري د افغانستان (۲۵٪) سلنه ناخالصه کورني تولیداتو برخه جوړوي. که څه هم، د تېرو درې نیمو لسیزو جګړو له امله د کرنې او مالدارۍ سکټور خورا ډېر زیانمن شوی، خو د څو کلونو راهیسې حکومت، ښکېلو اړخونو او بزګرانو ډېرې هڅې کړې دي چې د کرنې او مالدارۍ سکټور بیا را ژوندی کړي.
حکومت هوډ لري چې د کلیوالي سیمو اقتصادي وضعیت ودې ته جدي پاملرنه وکړي او دې چارو ته یې په خپلو کړنو کې لومړیتوب ورکړی دی.
که چېرې د افغانستان کرنیز محصولاتو د صادراتو لپاره آسانتیاوې رامنځته شي او د هوايي دهلیزونو ترڅنګ افغان حکومت هم د سیمې او نړیوالو هېوادونو سره تړونونه وکړي او په کور دننه هم د دې محصولاتو څخه د ګټې اخیستنې لپاره زمینه برابره کړي، له یوې خوا به د بزګرانو اقتصاد غښتلی کړي او له بل پلوه به د افغانستان اقتصادي ودې ته لارې چارې هوارې کړي.
د کرنې او مالدارۍ وزارت د شمېرو له مخې چې تېرکال یوازې په فراه کې له نیم میلیون ټنو څخه ډېرې هندوانې تولید شوې وې چې سږکال په کرنیزو محصولاتو کې یې نور هم زیاتوالی راغلی، خو په افغانستان کې د ستندردونو د کموالي او د فابریکاتو یا کارخونو د نشتوالي امله چې له دې کرنیزو محصولاتو او مېوو څخه ښه ګټه پورته شي، لاهم ستونزې شتون لري.
دغه مېوې او کرنیز محصولات د ډېرې مودې لپاره نه ساتل کېږي، په وخت سره بهرنیو هېوادونو ته نه صادرېږي، سړو خونو کې نه ساتل کېږي او یا هم د نورو څیزونو د جوړولو لپاره نه کارول کېږي، څو یې عمر اوږد شي، نو له همدې امله د کرنیزو محصولاتو د تولید پرمهال ډېری مېوې او ځینې نورکرنیز محصولات خپله بیه له لاسه ورکوي، چې ښه بېلګه یې روان کال په فراه او ځینو نورو ولایتونو کې هندوانې وې، چې د بزګرانو له خوا پرې لګېدلې لګښتونه هم ترلاسه نشول چې د راتلونکو کلونو په کرنیزو محصولاتو یې خورا منفي اغیز وشینده.



**حمیدالله فیضي**

د ریاست د دفتر د لوی آمریت د عامه پوهاوي مدیر

په افغانستان کې ټیټه اقتصادي وده د دې لامل شوې چې د افغانستان په اقتصادي کمزورتیا کې د کرنیز سکټور ونډه هم کمزورې وبلل شي، خو د ملي یووالي حکومت هڅه کوي چې کرنیز سکټور ته وده ورکړي او په همدې موخه یې د اوبو د محارکولو او د شاړو ځمکو د خړوبولو لپاره د بندونو جوړولو چارو ته لومړیتوب ورکړی دی.
زیری بیا دا دی چې په افغانستان کې د کرنې سکټور د ماشیني کولو له پاره هم هڅې پیل شوې دي. د امریکا متحدو ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې په ګډون یو شمېر نړیوالو سازمانونو هم په دې برخه کې له افغانستان سره مرسته کړې ده. دغه سازمان له ۲۰۰۲ زېږدیز

»

کال راهیسې له یو میلیون افغان بزګرو سره مرسته کړې ده. د دغې امریکایي ادارې د معلوماتو له مخې د افغانستان تر۷۵ سلنې ډېر اوسیدونکي د خپل ژوند د اړتیا پوره کولو په موخه د کرنې پر سکټور تکیه کوي. پر دې سربېره د کرنې سکټور د افغانستان د کورنیو ناخالصو عوایدو ۳۱ سلنې برخه جوړوي.

که چېرې د بزګرانو لپاره مسلکي معلومات، د اړتیا وړ مالي ملاتړ او بازار ته د هغوی د لاسرسي لپاره آسانتیاوې برابرې شي، پرته له دې چې ډېری ځوانانو ته به د کار زمینه برابره کړي، بزګران به هم د دې وړتیا پیدا کړي چې د مېوو، سبزیجاتو، غلانو او د مالدارۍ سکټور د محصولاتو په برخو کې یو شمېر بې سارو سوداګریزو او تولیدي فرصتونو ته لاسرسی ومومي. د کرنیزو محصولاتو د سوداګرۍ او تولید پراختیا؛ په ځانګړې توګه د مېوو او مغزیاتو او د مالدارۍ په برخه کې لبنیات کولای شي د ځوانانو لپاره د کار موندنې او عایداتي سرچینو په برابرولو کې مهمه ونډه ترسره کړي.

په دې وروستیو کې نړیوال بازار موندنې په برخه کې ځینې بیلګې لکه له ځینو هېوادونو سره هوایي دهلېزونو پرانیستل، د کرنیزو محصولاتو د صادرېدو لپاره د لارو د پرانیستو په موخه د تړونونو لاسلیکول او د ا فغانستان تازه مېوې د هوایي چلند له لارې ځینو هېوادونو ته صادرول رانغاړي، خو یوازې دا نشي کولای د بزګرانو اړتیاوې بشپړې کړي، بلکې په کور دننه باید داسې فابریکې جوړې شي چې وکولای شي له بزګرانو د مېوو او سبزیجاتو کرنیز محصولات په مناسبه بیه ترلاسه شي او د راتلونکې اړتیاړوو لپاره ترې ګټه پورته شي.

د اوبه ایز سیستم د غښتلتیا او شاړو ځمکو د خړوبولو ترڅنګ تکنالوژۍ د خدمتونو له لارې د اړیکو د ټینګښت آسانتیاوې او د برېښنا انرژۍ ته آسانه او ارزانه لاسرسی، له هغه شمېر مهمو ملاتړ کوونکو او هڅوونکو لاملونو څخه بلل کېږي، چې بزګرانو او کلیوالي ټولنو ته د هغوی د محصولاتو د اغېزمن تولید او بازار ته د لاسرسي په برخه کې پوره پوره مرسته کوي.

په همدې بنسټ د کرنیزو محصولاتو موضوع واقعاً ډېره مهمه ده، د کرنیزو تولیداتو په برخه کې نیمګړتیاوې او نړیوالو مارکېټونو ته زمونږ د کرنیزو محصولاتو نه رسېدل هغه دوه اساسي ستونزې دي چې د کرنیز سکټور پر وړاندې ستر خنډونه شمېرل کېږي، خو دا نیمګړتیا په سېستم کې ده چې افغان بزګر یې له نړیوالو مارکېټونو سره نه دي تړلي، که دا سېستمونه ورغول شي، نو میلیونونه کاري فرصتونه به پیدا شي، ځکه کرنیزه وده د نړیوال ثبات او امنیت کیلي ده.

د افغانستان په کلیو او بانډو کې د کرنیز سکټور د پخې ودې له امله ورځ تر بلې د کار په بازار کې د کلیوالو ځوانانو د زیاتېدو شاهدان یو، چې د فقر او بېوزلۍ کچه لوړوي. د ا فغانستان دولت ته پکار ده چې ژر تر ژره لاس پکار شي له یوې خوا کرنیز سکټور سره مرستې چټکې کړي او له بل پلوه کرنیزو محصولاتو ته له نړیوالو هېوادونو په ځانګړې توګه د سیمو هېوادونو سره په اړیکه کې شي او د تولید پرمهال خپل کرنیز محصولات، ګاونډیو او د سیمه ایزو هېوادونو ترڅنګ د نړۍ ګوټ ګوټ ته صادر کړي، څو اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره شي.●

اخیستنې:

1. https://tatobaynews.com
2. http://monitor.af/ ۲۹/۳/۱۳۹۸ dari/1889/
3. http://documents.worldbank.org/curated/en/
4. https://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2010/06/100602_your_voice

# د سړو خونو اقتصادي ارزښت

که څه هم په افغانستان کې د تازه مېوې او سبزیجاتو زیات ډولونه تولیدېږي، خو د سړو خونو کمښت د دې لامل شوی دی چې افغانستان د مېوو او سبزیجاتو د تولید په مهال، کرنیز محصولات په ارزانه بیو بازارونو ته وړاندې کړي او یا هم د له منځه تلو له خطر سره مخ شي.

افغانستان چې یو کرنیز هېواد دی او په دې برخه کې په تېرو څو کلونو کې د لیدنې وړ چارې هم تر سره شوې دي، خو لا هم یاده برخه زیاتې پانګې اچونې ته اړتیا لري.

د سړو خونو په رامنځته کولو سره افغانستان ته د کرنیزو وارداتو په برخه کې د لیدنې وړ کموالی راځي او هېواد ته د دې کرنیزو توکو د وارداتو په مخنیوي بهرنیو هېوادونو ته د اسعارو له لېږد څخه مخنیوی کېږي.

د سړو خونو په برخه کې پانګه اچونه د دې لپاره زمینه برابروي چې افغانستان په هر فصل کې خپل کرنیز محصولات ولري او د اړتیا په مهال یې بازارونو ته وړاندې کړي. همدارنګه د دې خونو په رامنځته کېدو سره بزګران د کال په هر موسم کې د خپلو کرنیزو محصولاتو له پلور زیاته ګټه تر لاسه کولای شي.

د یادونې وړ ده چې دا مهال په هېواد کې د سړو خونو کمښت د دې لامل شوی دی چې بزګران د خپلو کرنیزو توکو له خرابېدو څخه د مخنیوي لپاره خپل کرنیز محصولات په ټیټو بیو سره وپلوري او دا چاره د دې لامل کېږي چې بزګران په کلني ډول ډېر کم عاید تر لاسه کړي.

د معلوماتو له مخې سږ کال په هېواد کې د هندوانې او خربوزې په حاصلاتو کې زیاتوالی راغلی دی، خو په کور دننه او بهر د دې مېوو لپاره د بازارونو نه شتون لامل شوی دی، چې بزګران اړ شي ترڅو خپلې مېوې په ډېره ارزانه بیه بازارونو ته وړاندې کړي.

که څه هم افغان دولت په تېرو څو کلونو کې له بهرنیو هېوادونو سره ځمکنۍ او هوایي سوداګریزې لارې رامنځته کړې دي، خو په ګاونډیو هېوادونو کې د افغان کرنیزو توکو لپاره د آسانتیاوو نه شتون، د دې لامل شوی چې افغان کرنیز توکي په کور دننه پاتې شي او په ډېرو ټیټو بیو وپلورل شي او یا هم د وخت په تېرېدو سره له منځه لاړ شي.

د دې لپاره چې په افغانستان کې کرنیز توکي وده وکړي او بزګران مو هم له خپلو حاصلاتو مناسبه ګټه ترلاسه کړي، په کار ده چې افغان دولت په کور دننه او بهرنیو هېوادونو کې د افغان کرنیزو تولیداتو لپاره بازار موندنه وکړي، په دې وسیله به هم بهرنیو هېوادونو ته د صادراتو په کچه کې لوړوالی راشي او هم به مو د بزګرانو اقتصادي وضعیت ورسره ښه شي.

په همدې ډول د کرنیزو توکو لپاره د سړو خونو جوړول د دې لپاره زمینه برابروي چې په کور دننه په هر فصل کې کورنۍ تازه مېوې او سبزیجات موجود وي، چې دا چاره هېواد ته د تازه مېوو او سبزیجاتو د وارداتو څخه مخنیوی کوي.

په افغانستان کې په عامه توګه فصلونه یو

»

ځل مېوه ورکوي او د دې فصلونو په تېرېدو سره سوداګر اړ دي چې له بهرنيو هېوادونو خپل هېواد ته مېوې او ترکاري راوړي.

د معلوماتو له مخې د هېواد په کچه له بڼونو څخه هرکال یو ملیون و پنځه سوه زره ټنه تازه مېوې راټولېږي، خو یوازې ۵۰۰زره ټنه يې له هېواده بهر صادرېږي او د دې میوو د تولید په مهال بهرنې هېوادونه په ځانګړې توګه ګاونډيان په افغان کرنيزو توکو ماليه لوړوي چې دې چارې د بزګرانو لپاره ستونزې رامنځته کړې دي.

په همدې حال کې معلومات ښيي چې په دې وروستيو کې د حامد کرزي په نړيوال هوايي ډګر کې دوې سړې خونې ګټې اخيستنې ته سپارل شوې دي، دا سړې خونې چې هر یوه يې د ۳۰ متريک ټنه مېوو د ساتلو وړتيا لري جوړې شوې دي.

په دې سره به د حامد کرزي له نړيوال هوايي ډګر څخه د تازه مېوو د صادراتو د چارو په سمون او تنظيم کې ډېر پرمختګ رامنځته شي او د صادراتي مېوو د ضايعاتو او خوساکېدو څخه به مخنيوی وشي.

له دې وړاندې بهرنيو هېوادونو ته د افغان کرنيزو توکو د لېږد په تړاو نيوکې دا وې چې د دې هېواد کرنيز توکي په ښه ډول نه بسته بندي کېږي او د لګښت نکتو (نقطو) ته تر رسېدو وړاندې له منځه ځي او دا لامل شوی وو، چې سوداګر بهرنيو هېوادونو ته د کرنيزو توکو د صادراتو لپاره زړه ښه نه کړي.

د معلوماتو له مخې دا مهال د ټول هېواد په کچه څه باندې ۱۷ زره سړې خونې فعالې دي چې د دې خونو ډېری يې په وروستيو پنځو کلونو کې رغول شوې دي.

همدارنګه په هېواد کې د ۱۲ داسې سړو خونو د جوړېدو طرحه، ډیزاین او نورې اړوندې چارې بشپړې شوې دي چې هره خونه به يې د ۵ سوه ټنه تازه مېوو د ځای کېدو وړتيا ولري او د جوړېدو چارې به يې ډېر ژر پيل شي.

د دې خونو په جوړېدو سره به په هېواد کې د ميوو او سبزيجاتو د ساتنې په برخه کې پرمختګونه رامنځته شي، دا چاره د بزګرانو په اقتصادي وضعيت کې د ليدنې وړ پرمختګ رامنځته کوي او هېواد ته له بهرنيو هېوادونو د مېوو او سبزيجاتو د راتګ مخنيوی کوي.

د يادونې وړ ده چې په هوايي ډګرونو کې د سړو خونو شتون دې ته لاره هواروي چې افغانستان په معياري توګه خپلې تازه مېوې تر نړيوالو مارکېټونو ورسوي او د دې محصولاتو له خرابېدو څخه مخنيوی وکړي.

سرچينې:


۱ – افغانستان د کال۱،۵میلیونه ټنه د تازه میوو تولید لري

راپور: وژمه فضلي

د خپرېدو نېټه: ۰۲/۱۲/۲۰۱۸

https://www.khabarpana.com/34471/afghanistan-produces-1-5-million-tons-of-fresh-fruit-a-year/

۲ – د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت

د خپرېدو نېټه: ۰۲/۰۴/۲۰۱۸

https://www.khabarpana.com/31608/کرنې-وزارت-دولس-سترې-سړې-خونې-جوړوي/

۳ – د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت

د کابل په نړيوال هوايي ډګر کې دوه سړې خونې پرانيستل شوې

http://mail.gov.af/ps/د-کابل-په-نړيوال-هوايي-ډګر-کې-دوه-سړې-خونې-پرانيستل-شوې

# مالداري ته پاملرنه؛ د لبنیاتو له وارداتو خلاصون

که څه هم په تېرو څو کلونو کې د کرنې او مالدارۍ برخو ته پاملرنه شوې ده، خو د مالدارۍ برخه لا هم زیاتې پاملرنې او پانګې اچونې ته اړتیا لري. په هېواد کې د مالدارۍ برخې ته پاملرنه به دا هېواد د نورو هېوادونو څخه د لبنیاتو له وارداتو خلاص کړي.

د معلوماتو له مخې افغانستان ته په کلني ډول د سل میلیون ډالرو په ارزښت لبنیات چې شیدې او پېروی په کې شامل دي له چین، پاکستان او ایران څخه راوړل کېږي. که چېرې د مالدارۍ په برخه کې پانګه اچونه وشي، افغانستان څخه په کلني ډول بهرنیو هېوادونو ته د سل میلیون ډالرو له تګ څخه مخنیوی کېږي.

څېړنې ښیي چې افغانستان په کلني ډول دوه میلیونه او سل زره لېتره لبنیاتو ته اړتیا لري چې دا مهال د اړتیا وړ ۹۰ سلنه یې په کور دننه تولیدېږي. د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د زیات شمېر کورنیو اقتصادي وضعیت د مالدارۍ پر بنسټ ولاړ دی او له همدې لارې ډېری کسانو ته د دندو زمینې برابرې شوې دي.

په افغانستان کې له ډېرو زمانو را په دېخوا کرنه او مالداري دود ده او اوسمهال ۲۷ میلیون بېلابېل ډوله څاروي شتون لري چې له همدې لارې د کورنې ناخالص تولید ۲.۸ سلنه د دې لارې لاسته راځي.

د معلوماتو پر بنسټ دا مهال په هېواد کې د کورنیو فارمونو شمېر نږدې یو میلیون ته رسېږي چې دا فارمونه په کلیوالو او ښاري سیمو کې د هغو کسانو له لوري رامنځته شوي چې په مالدارۍ بوخت دي او د خپلو کورنیو مالي ستونزې د همدې فارمونو څخه د لاسته راغلو محصولاتو له پلور حلوي.

دا معلومات ښیي چې د یادو کورنیو فارمونو سربېره د ټول هېواد په کچه ۴۳۰ سوداګریز فارمونه هم شته چې په ښاري او کلیوالو سیمو کې د لبنیاتو د پېر او پلور چارې مخته وړي.

که څه هم د مالدارۍ په برخه کې د بوختو کسانو شمېر په دقیق ډول نه دی څرګند، خو په دې فارمونو کې په زرګونو کسان په مستقیم او غیر مستقیم ډول په دندو بوخت دي، پاتې د نه وي چې د دې کورنیو فارمونو ډېری چارې د ښځو له لوري تر سره کېږي.

په لرې پرتو سیمو کلیو او بانډو کې مېشت هغه کسان چې په مالدارۍ بوخت دي، پخپله له تولید شویو محصولاتو ګټه پورته کوي او یا یې هم په ګاونډیانو او خپلو خپلوانو باندې وېشي، خو ورو ورو د بازار اړتیاوو ته په کتلو سره هره کورنۍ هڅه کوي چې تولید شوي لبنیات بازار ته وړاندې کړي چې دا کار نورې کورنۍ هم هڅوي ترڅو خپل محصولات وپلوري.



په کليوالو سيمو کې د لبنياتو د پېر او پلور عام کېدل نېغ په نېغه هېواد کې پيسو ته حرکت ورکوي او د هغو کورنيو په ژوند مثبت اغېز کوي چې د مالدارۍ په چارو کې بوخت دي.

که څه هم په افغانستان کې لا هم مالداري او د لبنياتو پروسس په برخه کې يو شمېر پرمختګونه رامنځته شوي دي، خو لا هم د هېواد په ډېرى سيمو کې د مالدارۍ چارې په سنتي ډول تر سره کېږي او دا چاره د دې لامل شوې ده چې په دې برخه کې پرمختګ رامنځته نه شي او له زياتو څارويو کم محصولات تر لاسه کړي.

د دولت له لوري دې برخې ته پاملرنه به نه يوازې دا چې د بزګرانو او مالدارانو په اقتصادي وضعيت کې ښه والی رامنځته کړي، بلکې په دې برخه کې به د هېواد د په ځان بسياينې لپاره هم زمينه برابره کړي.

په عصري ډول د مالدارۍ چارو تر سره کول او د پرمختللو وسايلو په وسيله د لبنياتو پروسس ( چاڼ) د اقتصادي پرمختګ په برخه کې مرسته کوي او په بازارونو کې د دې توکو لپاره غوښتنې زياتوي.

بل طرف د مالدارۍ په برخه کې د پانګې اچونه او د څارويو لپاره د معياري فارمونو رامځته کېدل دا هېواد د غوښو په برخه کې هم په ځان بسيا کولای شي.

د معلوماتو له مخې په تېر لمريز کال کې افغانستان څه باندې ۳۲ زره ټنه د غوايي، پسه، ماهي او چرګانو غوښې له ګاونډيو او يو شمېر نورو هېوادونو وارد کړې دي.

که په دې برخه کې پانګه اچونه وشي افغانستان به نه يوازې دا چې په دې برخه کې له وارداتو خلاص شي، بلکې نورو هېوادونو ته به صادرات هم ولري او د غوښې د وارداتو په پار بهرنيو هېوادونو ته له تلونکو اسعارو به هم مخنيوی وشي.

څېړنې ښيي چې هر انسان په کلني ډول ۴۰.۹۰ کيلو ګرامه غوښه مصرفوي او د دې څېړنو له مخې په ټوله نړۍ کې په کلني ډول ۳۱۵ ميليون ټنه غوښه مصرفېږي، د معلوماتو پر بنسټ د مصرف دا کچه د هر کال په تېرېدو د غوښې غوښتنو ته په کتلو سره د لوړېدو په حال کې ده.

افغانستان هم د هغې هېوادونو له ډلې دی چې زيات شمېر وګړي يې له غوښې ګټه پورته کوي، که په دې هېواد کې بزګرانو ته د څارويو د روزنې لپاره پراخې آسانتياوې رامنځته شي دا هېواد د دې وړتيا لري چې ګاونډيو هېوادونو ته هم په دې برخه کې صادرات ولري.

سرچينې:

۱ - مرکزي احصايه ۱۳۹۷ کلنی راپور

http://cso.gov.af/Content/files/سالنامه%20احصائیوی/سالنامه%2097/سالنامه%20احصائیوی%2097.pdf

۲ - اقتصادي راپور: عابده طلايي

د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۷ د وږي ۴مه

https://tkg.af/pashto/2018/08/26/دولت-یر-مالداري-پانگونه-کوي/

۳ – د غوښې د خوراک نړيواله احصايه

https://www.theworldcounts.com/counters/world_food_consumption_statistics/world_meat_consumption_statistics



**ګرانو هېوادوالو!**

د افغانستان رايجې پيسې او پولي واحد افغاني دي! له همدې امله، د ټولو افغانانو څخه غوښتل کيږي څو په اقتصادي راکړو او ورکړو کې له افغانيو څخه کار واخلي.

## اطلاعیۀ د افغانستان بانک

به تعقیب اطلاعیه قبلی؛ د افغانستان بانک یک بار دیگر به اطلاع هموطنان عزیز می رساند که تعدادی از افراد در مرکز و بعضی از ولایات هنوز هم تحت نام تجارت آنلاین فورکس به معاملات مالی اقدام می نمایند. د افغانستان بانک تا اکنون به هیچ فرد یا شرکتی جواز فعالیت آنلاین فورکس را صادر ننموده و فعالیتهای آنها غیر قانونی می باشد. از اینکه داد و ستد با چنین افراد و شرکت ها عاری از خطر نبوده و زیان های مالی برای هموطنان ما به بار می آورد، از هموطنان عزیز جداً تقاضا می نمائیم تا از انجام معاملات با چنین افراد و شرکت ها خودداری نمایند.

د افغانستان بانک در تلاش است تا افرادی که چنین فعالیت ها را راه اندازی می نمایند، شناسایی نموده و به ارگانهای عدلی و قضایی معرفی نماید.

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال سیزدهم شماره ۱۴۷، سنبله ۱۳۹۸



**ملي پیسې د ملي یووالي سمبول او زمونږ د هېواد د ملي اقتدار نښه ده**